د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

پښتو

شپږم ټولگی

ـوري اړه
منعه دی.

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

پښتو

شپږم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ. ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب د تأليف، څېړنې او تدقيق کميټې

ليکواله:

– د مؤلف مرستياله فروزان خاموش د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف رياست د پښتو ديپارتمنت غړې.

تاييد او مطالعه:

ملي شورا

د ولسي او مشرانو جرګو د ديني چارو، پوهنې او لوړو زده کړو د کميسيونونو غړي.

د څېړنې او تدقيق کمېټې

کابل پوهنتون

– پوهندوی محمد رفيق رفيق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پوهنځي د پښتو ديپارتمنت استاد.

علومو اکاډمي

– سر څېړونکی عبدالواجد واجد د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو د مرکز رئيس.

د پوهنې وزارت

۱. د سر مؤلف مرستيال سيد محمود کارګر د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونود تاليف رياست د پښتو ديپارتمنټ علمي او مسلکي غړی او د دې کتاب ايډيټ کوونکی.

۲. د سر مؤلف مرستيال امين الله نژند د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونود تاليف رياست د پښتو ديپارتمنت آمر.

۳. د مؤلف مرستيال محمد عزيز تحريک د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونود تاليف رياست د پښتو د يپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.

۴. د مؤلف مرستيال محمد سهراب ديدار د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونود تاليف رياست د پښتو ديپارتمنټ غړی.

۵. محمد عزيز حسين خېل د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونود تاليف رياست د پښتو ديپارتمنټ غړی.

۶. سيف الرحمن آشنا د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونود تاليف رياست د پښتو ديپارتمنټ اديتور.

۷. پلوشه د عاشقان او عارفان د ليسې ښوونکې.

انځورګران: نفيسه پوپلزۍ او محمد غالب الله يار.

د محتوياتو، ديني، فرهنګي او سياسي برخو د څېړنې او کره کتنې کميټې:

– ډاکټر عطاء الله واحديار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئيس.

– دوکتور محمد يوسف نيازی د پوهنې وزارت سلاکار.

د څېړنې او تدقيق د څارنې کميټه:

– دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين

– دکتور شېر علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول

– د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر ګلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس

کمپوز او ډيزاين:

نصرالدين (ناصر) او حميد الله (غفاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به — لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پیغام

گرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب فهرست

شمېرې	عنوان	مـخونه
۱	حمد	۱
۲	پوهنه	۳
۳	ځان وپېژنه!	۵
۴	غړونه	۷
۵	آريايان	۹
٦	کتاب څنګه منځ ته راغی؟	۱۱
۷	حضرت علي کرم الله وجهُه	۱۱
۸	کلمه او دهغې ډولونه	۱۵
۹	د خپلواکو کلمو ډولونه	۱۷
۱۰	امیر کروړ	۱۹
۱۱	متل څه ته وايي؟	۲۱
۱۲	د پټې خزانې ليکوال	۲۳
۱۳	مطالعه	۲۵
۱۴	نا خپلواکې کلمې	۲۷
۱۵	د لقمان حکيم نصيحتونه	۲۹
۱٦	وزير محمد اکبر خان	۳۱
۱۷	د شاعر ډالۍ	۳۳
۱۸	تاړې يا وندونه	۳۵
۱۹	د افغانستان طبيعي زېرمې	۳۷
۲۰	خوشحال خان ختک ته!	۳۹
۲۱	ستاينوم (صفت)	۴۱
۲۲	قيمتي ډبرې	۴۳

۲۳	کمپیوټر	۴۵
۲۴	ضمیرونه	۴۷
۲۵	لنډی	۴۹
۲٦	د آیوډین روغتیا یي ارزښت	۵۱
۲۷	شمېر نوم (عدد)	۵۳
۲۸	مېرمن زینبه	۵۵
۲۹	د پنسل اختراع	۵۷
۳۰	قیدونه	۵۹
۳۱	زلزله	۶۱
۳۲	رحمان بابا	۶۳
۳۳	فعل او دهغه ډولونه	۶۵
۳۴	د بشر لوی خدمتګار	۶۷
۳۵	بېټ نیکه	۶۹
۳٦	د فعل رېښه	۷۱
۳۷	کوچنیان	۷۳
۳۸	دغوږونو ساتنه	۷۵
۳۹	ملي یووالی	۷۷
۴۰	د تېر مهال فعلونه	۷۹
۴۱	د نشه یي توکو اغېزې	۸۱
۴۲	په څمکه کې بدلونونه	۸۳
۴۳	فعل دبڼې او شکل له مخې	۸۵
۴۴	کار وکړئ سوال مه کوئ!	۸۷
۴۵	ځیرک سوالګر	۸۹
۴٦	بشر دوستي	۹۱
۴۷	د وطن ترانه	۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

لـومـړی لوست

حمد

موخې:

۱. د پاک الله (جل جلاله) پېژندنه.
۲. د الله (جل جلاله) د ښې پېژندنې له پاره د ديني تعليماتو زده کړه او لوستل.
۳. د شعر او بيتونو لوستل او ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. موږ چا پيدا کړي يو؟
۲. پاک الله (جل جلاله) پرته له موږ څخه نور څه شيان پيدا کړي دي؟
۳. موږ د الله (جل جلاله) د صفاتو، قدرتونو او ښې پېژندنې له پاره ښايي څه وکړو؟

پاک الله (جل جلاله) ته!

زه مـدد غواړم لـه تانه اې يوه خدايه احـده
که مدد دې راسره وي چار به نه شي زما بده
زه عاجز مريی د ستايم تا به ستايم ستا په فضل
ستا ثنا صفت به وايم څو زه توان لرم بېحده
ستا ثنـا ده تـر حد تېره د بيـابان تـر شګو ډېـره
هسې څوک دي چې خبر شي د دې شګو له عدده
دا شامت زموږه خپل دی چې مو کار هسې مشکل دی
ګنې تـه څـه هسې نـه يې چې خپـل ور تـړې لـه رده
د خـوشحـال ويل اومـه دي لايق ستا د صفـت نه دي
ستا پـه فـضل به پخېږي دا اومه ويل احده

خوشحال خان خټک

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

مدد- مرسته	چار- کار	احد- یو (واحد)
شامت- بدمرغي	اومه- خام	مریی- غلام
ستایم- ستاینه کوم		

ښوونکي ته لارښووني:

۱. ښوونکی دې شعر ولولي.
۲. د الله (جل جلاله) د قدرتونو او صفاتو په هکله دې خبرې وکړي.
۳. زده کوونکي دې په ګروپونو باندې وویشي او هر ګروپ دې له یو بل سره دمشورې په توګه د خدای (جل جلاله) په صفاتو او قدرتونو باندې خبرې وکړي، او بیا دې له هر ګروپ څخه یو تن خپلې خبرې نورو ته ووایي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱.زده کوونکي دې د شعر بیتونه ولولي او هغه دې معنا کړي.
۲. په دوه کسیزه توګه دې دا شعر داملا په توګه یو بل ته ووایي او ودې لیکي.
۳. په وار سره دې د ټولګي مخې ته را شي او په مېز باندې ایښودل شوي کارتونه چې د الله (جل جلاله) نومونه او صفتونه په کې لیکل شوي واخلي. هر یو زده کوونکی دې دخپل کارت کلمه په تخته ولیکي او هغې ته دې یوه جمله جوړه کړي.
دمثال په توګه: په کارت کې (رحم) هېڅوک د خدای (جل جلاله) له رحم څخه بې نصیبه نه دي.

ارزونه:

۱. زده کوونکي شعر لوستلی او په مطلب یې پوهېدلی شي؟
۲. د شعر هر یو بیت لوستلی اوتوضیح کولی شي؟
۳. دا لاندې کلمې په تورو اړولی شي؟
(احد ، ستایم، فضل، شامت، اومه)

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې له خپلو کورنیو سره د الله (جل جلاله) د قدرتونو او صفاتو په هکله مشورې وکړي. د هغو له وینااو څخه دې پنځو صفتونو ته جملې جوړې او په کتابچو کې دې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم لوست

پوهنه

موخې:

۱. زده کوونکي د پوهنې په معنا او مفهوم باندې وپوهېږي.
۲. د پوهنې په ارزښت باندې وپوهېږي.
۳. متن سم ولولي او ویې لیکي.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو پوهېږئ چې پوهنه څه معنا لري؟
۲. موږ ولې درس وایو او دا موضوع له پوهنې سره څه اړیکې لري؟
۳. موږ څنګه کولی شو چې د پوهې خاوندان شو؟

علم د پوهې، پېژندنې او خبرتیا په معنا دی. پوهنه د یوې رڼا په څېر د انسان زړه، دماغ او د هغه د بریالیتوبونو لارې روښانه کوي. انسان له بې لارۍ او مایوسۍ څخه ژغوري او خپلې موخې ته یې د رسېدو لارې چارې برابروي. له بلې خوا ناپوهي داسې تیاره ده، چې انسان له ډار، خطر او خوارۍ سره مخامخ کوي.
څښتن تعالی (جل جلاله) په خپله د پوه او ناپوه ترمنځ د توپیر په هکله داسې فرمايي: ((آیا هغه کسان چې پوهېږي له هغو کسانو سره چې نه پوهېږي برابر دي؟))
هېڅکله پوهه او ناپوهي – رڼا او تیاره سره برابر نه دي.
انسان د علم او پوهې په وسیله لومړی خپل ځان او بیا خپل خالق (جل جلاله) پېژني. په کار دي چې له علم سره یې عمل هم ملګری وي، ځکه چې عمل د علم مېوه ګڼل کېږي او وایي چې: ((بې عمله عالم د هغې شندې ونې په څېر دی چې ارزښت نه لري.)) همدا ډول له علم او پوهې څخه باید د انسانانو د هوساینې، سوکالۍ او د هغوی د ستونزو د لرې کولو له پاره کار واخلو. د خپلو خلکو او د بشر د نیکمرغیو له پاره هلې ځلې وکړو.

نوي لغتونه:

بریالیتوبونه - کامیابۍ	شنډه- بې مېوې	ستونزې- مشکلات	
هلې ځلې- هڅې او کوښښ	هوسایي- آرامي	سوکالي- آسوده ګي	

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او دهغه په هکله دې معلومات وړاندې کړي.
۲. د پوهنې په ارزښت اوهغې ته د اړتیاوو په هکله دې خبرې وکړي.
۳. په متن کې دې متضادو کلمو ته اشاره وکړي. لکه: پوه، ناپوه - رڼا ، تیاره، خبرتیا ، بې خبري.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن له خپل ځان سره ولولي او دهغه مطلب دې په ساده کلمو کې څرګند کړي.
۲. زده کوونکي دې دا لاندې لغتونه تر معنا کولو وروسته په جملو کې وکاروي.
(پوهه ، ستونزې، ارزښت، سوکالي)
۳. زده کوونکي دې دا لاندې نیمګړې جملې د متن په لوستلو سره بشپړې کړي او بیا دې په کتابچو کې ولیکي.

الف. دعلم او پوهې په مرسته لومړی خپل ځان او بیا................ .
ب. بی عمله عالم د ....
ج. آیا هغه کسان چې علم لري برابر دي له هغو......................... .
د. دعلم او پوهې څخه د انسانانود......................... .
هـ. پوهه دیوې رڼا په څېر د انسان زړه.............. .

ارزونه:

۱. زده کوونکي د پوهنې په معنا او مفهوم وپوهېدل؟
۲. په دې هکله یوه لنډه مقاله لیکلی شي؟
۳. متن لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې دغه کلمې په مناسبو جملو کې وکاروي بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.
(رڼا ، هوسایي، نېکمرغي، خواري)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست

ځان وپېژنه!

موخې:

۱. د ځان وپېژنه په معنا او مطلب باندې د زده کوونکو پوهېدل.
۲. زده کوونکي دې وپوهېږي چې دوی هم خپلو خلکو او ټولنې ته مسوولیتونه لري.
۳. دمتن لوستل او لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تا سو په دې مطلب پوهېږئ چې ځان وپېژنه څه معنا لري؟
۲. د یوه پوه او غیرتمن ځوان په صفت د ژوند په عملي ډګر کې باید څه وکړو؟
۳. ولې خلک او ټولنه مور ته سترګې په لاره دي؟

سترګې پرانیزه، د بدبینۍ حس له مغزو څخه وباسه، په ځیرځیر وګوره، طبیعت ټول تاته په خندا د ژوندانه د هوساینې اسباب را غونډوي. غرونه ستا دلوړهمت د هرکلي له پاره هر لورته ولاړ دي. لمر هره ورځ له ځان سره تاته د ژوندانه بې شمېره هیلې را وړي. ځمکه خپل آرمانونه د ګلونو په پاڼو کې تاتـه وړاندې کوي.د وطن د وړو او زړو د امېد سترګې ستا خواته کږې دي، ځکه چې ته د دوی او دوی ستا دي. د کوچنیوالي لوبې کوچنیانو تـه پرېږده. د زلمیتـوب بې ځایـه عیشونه او هوسونه هغه چاته وړاندې کړه، چې ته یې پېښنې کوې.

ته دخپلو بې وزلو کاریګرو سره لیچې ونغاړه. له بزګرانو سره لاسونه تناکې کړه. لـه زده کوونکو سره ماغزه په کار واچوه. د وطن د پرمختګ له پاره زیار وباسه. پرېږده! چې نور په هوا الوزي ته بې وزرو الوتی نه شې.

ځان وپېژنه! په تشو خبرو هېڅ نه ترسره کېږي. عملي میدان تـه را ووځه! دا خـاوره ستا همت تـه ګوري. کار غـواړي. د بې غمـۍ او استراحت سره وداع وکړه. خـوب دګور مړوته پرېږده! ته خو ژوندی یـې. دهېـواد راتلونکی سعادت په تا پورې اړه لـري. د زلمیتـوب طلایي ورځـې پـه همـدې خدمت کې تېرې کـړه. سـر ترپایـه دپېښو کولو په جامو کې ځان مه نغاړه! د دې وخت دی چــې ځانتـه ووایې: آه لا تــرڅـو!؟ ځان و پېژنه! داسې کار وکړه چې نور ستا پېښې وکړي، لکه پخوا چې یې کاوه.

(الفت)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

وړانګې- پلوشې	تقلید- دنورو پېښې کول	نغاړل- پېچل
هیله- امېد	لېچې ونغاړه- لستوڼی را پورته کړه	مه نغاړه- مه تاووه

ښوونکي ته لارښووني:

۱. ښوونکی دې متن ولولي. دهغه په معنا او مطلب دې وغږېږي.
۲. ځوانانو ته دې خپل مسوولیتونه ور وپېژني.
۳. دا کلمې دې په تخته ولیکي او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې یوه یوه جمله ور څخه جوړه، بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.
(ارمانونه، راتلونکي، زلمیتوب، لوړهمت)
۴. ښوونکی دې متن په زده کوونکو باندې د املا په توګه ولیکي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې په ډلو ووېشل شي. هره ډله دې په یوې ټاکلې برخې باندې خبرې وکړي. خپلې نظر یې دې په یوه پاڼه کې ولیکي اوله هرې ډلې څخه دې یو تن د نورو په مخ کې ولولي.

الف. انسان ولې د کار کولو له پاره باید لوړ همت ولري؟

ب. د خپل ځان او هېواد د پرمختګ له پاره څنګه زیار وباسو؟

ارزونه:

۱. زده کوونکي د لوست په معنا او مفهوم باندې و پوهېدل؟
۲. آیا زده کوونکو خپل مسوولیتونه وپېژندل. دوی وپوهېدل چې د یوه پوه ځوان په توګه دخپلو خلکو او هېواد له پاره څه وکړي؟
۳. د متن لوستل او لیکل کولی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې له متن څخه پنځه کلمې په خپله خوښه غوره کړي او هغه دې په جملو کې وکاروي.

څلورم لوست

غږونه (آوازونه)

موخې:

۱. د اساسي یا بنسټیزو توکو په څېر د غږونو پېژندل.
۲. زده کوونکي دې په دې و پوهېږي، چې یوه ژبه څنګه له غږونه څخه جوړه شوې ده؟
۳. په لوستلو او ویلو کې د غږونو سم ادا کول.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو څه فکر کوئ، چې غږونه هم په ژبه کې ارزښت لري؟
۲. زموږ دژبې ټولې کلمې او خبرې له غږونو څخه جوړې شوېدي؟
۳. آیا ټول غږونه په ویلو کې یو شان دي؟

دشلمې پېړۍ په پیل کې نوو علمي څېړنو دا ثابته کړه چې، غږونه د یوې ژبې اساس او بنسټ جوړوي، نو ویلی شو چې غږونه د ژبې جوړوونکي توکي دي. که څه هم دغه کوچني توکي په یوازې توګه معنا نه لري، خو دهغو توپیر په کلمو کې، د کلمو معنا بدلوي، لکه: د (ت) آواز د (تور) په کلمه کې. که چېرې د دغه آواز په ځای د (پ) آواز راوړو، نو د تور له کلمې څخه د (پور) کلمه جوړېږي. چې دا دوه بېلې بېلې کلمې دي. غږونه په هره ژبه کې په یوازې او جلا جلا توګه، نه کارول کېږي، بلکې د هغو له یو ځای کېدو څخه تر ټولو کوچنې معنا داره واحدونه جوړېږي چې کلمه ورته وايي.
په هره ژبه کې الفبې د هغې ژبې د ټولو تورو شمېر ته ویل کېږي چې د هغې ژبې د آوازونو انځورونه کوي. یا د یوې ژبې د غږونو رسم او شکل ښیي چې په لیکنه کې ترې کار اخیستل کېږي.
په پښتو ژبه کې د څلوېښتو په شاوخوا کې غږونه کارول کېږي، چې په دغو ګروپونو باندې وېشل شویدي:

الف. خپلواک غږونه. ب. بېواک غږونه.
ج. نیم واک غږونه. د. غبرګ غږونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

توکي- برخې، اجزا	توپیر- فرق	اساسي- بنسټيز
څېړنه- تحقیق	غبرګ- جوړه	انځورونه- رسمونه

ښوونکي ته لارښووني:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او په دې برخه کې چې، غږونه د یوې ژبې بنسټيز توکي دي څرګندونه وکړي.
۲. غږونه او د الفبې توري دې په جلا جلا توګه وښيي. د هغو توپیرونه دې په مثالونو کې څرګند، بیا دې په تخته ولیکي او زده کوونکي دې هم هغه ولیکي.
۳. د غږونو ډولونه دې په تخته ولیکي او په زده کوونکو دې تکرار کړي.
۴. متن دې په زده کوونکو باندې په یاد زده کړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د هغه په هکله دې وغږېږي!
۲. دا برخه دې د متن په لوستلو سره بشپړه او په کتابچو کې دې ولیکي!

الف. د شلمې پېړۍ علمي څېړنو دا ثابته کړه چې ....
ب. غږونه په جلا او یوازې توګه معنا نه لري خو ....
ج. په هره ژبه کې د هغې الفبې ....
د. په پښتو ژبه کې د (۴۰) غږونه...............
هـ. د غږونو له جوړښت او یوځای کېدو څخه ....
و. ټول غږونه په څلور برخو وېشل شوي ....
ز. کلمه هغه تر ټولو کوچنی ....

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي د غږونو په موخه وپوهېدل؟
۲. په دې هم پوه شول چې د یوې ژبې بنسټيز توکي څه شی دي؟
۳. غږونه په لوستلو کې سم ادا کولی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن په کتابچو کې ولیکي. او د هغه په مطلب دې خپلو ټولګیوالو ته خبرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست

آريايان

موخې:

۱. د آريايانو پېژندل.
۲. د آريا يانو د ټاټوبي، ژبې او ژوند په هکله پوهېدل.
۳. د آريايانو د کوچېدلو په هکله پوهېدل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آيا تاسو د آريايانو کلمه اويا د هغو په هکله کومه کيسه اورېدلې ده؟
۲. آيا تاسو فکر کولی شئ چې لرغوني آريايان زموږ لوی نيکونه دي؟
۳. آريايان لومړی څه چېرې اوسېدل او څه ډول ژوند يې درلود؟

له ميلاد څخه په زرګونو کلونه مخکې داوسني افغانستان په شمال کې آريايي قومونه اوسېدل. دوی خپل لرغوني ټاټوبي ته آرياناويجه ويله، چې د اصيلانو او شريفو خلکو د اوسېدو ځای معنا لري. آريايان په لومړي سر کې په يوه ژبه چې آريک نومېده غږېدل او دا د پښتو ژبې اصلي مور ګڼل شوې ده.
آريايانو په آرياناويجه کې د کوچيتوب او مالدارۍ ژوند درلود. څو زرګونه کلونه وروسته يې ښاري ژوند پيل او د لومړي ځل له پاره يې د بُخدي ښار جوړ کړ، چې پېشدادي کورنۍ (يما) پاچا د آريايي دولت اداره په غاړه درلوده. دا زمانه له ميلاد څخه (۱۵۰۰) کاله د مخه اټکل شوې ده.
يما پاچا ډېر هوښيار او نوښتګر و. ده ډېر خدمتونه وکړل. ځمکې يې آبادې او ويالې يې جوړې کړې. دخپلې ټولنې د ښه سمون له پاره يې اداره جوړه کړه. دوی لويې او وړې جرګې درلودې، چې هر ډول پرېکړې به يې کولې. حتی مشر به يې هم له دې لارې ټاکه. له زرګونو کلونو څخه وروسته آريايان د زياتوالي له امله د افغانستان نورو سيمو ته وکوچېدل، چې زموږ د هېواد په مرکزي، ختيځو او لويديځو برخو کې خپاره او مېشته شول.
څو دغو ستونزو بيا هم دوی له افغانستان څخه نورو سيموته وکوچول، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوېديځ خوا ايران او ختيځ خوا ته د هند تر ځنګلونو پورې ورسېدل. له خپل ځان سره وړی تمدن يې خپور او ښه وده يې ورکړه.

نوي لغتونه:

ټاټوبی- د اوسېدو ځای
ويجه- ټاټوبی
ټاکل- تعينول
نوښتګر- مبتکر
بُخدي- اوسنی بلخ چې اُم البلاد هم نومېده.

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د آريايانو په هکله دې زده کوونکوته معلومات وړاندې کړي.
۲. متن دې په زده کوونکو باندې د املا په توګه وليکي.
۳. د متن د لاندېنيو برخو په هکله دې څرګندونې وکړي.
الف. آريانا وېجه.
ب. آريک ژبه.
ج. د بُخدي ښار.
د. د آريايانو کوچېدل.

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن په دوه کسيزه توګه ولولي او بيا دې يو بل ته د هغه په هکله څرګندونې وکړي.
۲. دا لاندې لغتونه دې په مناسبو جملو کې راوړي او په کتابچو کې دې وليکي.
الف. نوښتګر ب. خدمتونه ج. آريک د. بُخدي
۳. د جملو تش ځايونه دې د متن په لوستلو سره په مناسبو کلمو ډک او بيا دې وليکي.
الف. آريايانو په يوه ژبه خبرې کولې چې ________ نومېده، اود ________ مور بلل کېږي.
ب. آريايانو په يوه سيمه کې ژوند کاوه چې ____________________ يادېدله.
ج. د آريايانو لومړنی پاچا _____ نومېده (۱۵۰۰) کاله دمخه په _____ کې په تخت کښېناست.
د. آريايان د زياتوالي له امله له افغانستان څخه د ________ او ________ خواته وکوچېدل.
(پښتو ژبې ـ آرياناوېجه ـ يما ـ ايران ـ بُخدي ـ آريک ـ هند)

ارزونه:

۱. آيا زده کوونکي په دې وپوهېدل چې آريايان څوک دي؟
۲. دآريايانو د اصلي ټاټوبي، ژبې او کوچېدو په هکله وپوهېدل؟
۳. متن لوستلی او ليکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د دغو کلمو لنډه څرګندونه وکړي او بيا دې په خپلو کتابچو کې وليکي.
(اُم البلاد ـ آريک ـ آرياناوېجه ـ يماپاچا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست

کتاب څنګه منځ ته راغی؟

موخې:

۱. زده کوونکي په دې وپوهېږي چې کتاب څنګه منځ ته راغی؟
۲. د کتاب په ارزښت باندې پوهېدل.
۳. د متن لوستل او ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو څه فکر کوئ چې پخوا زمانو کې به هم کتاب موجود و؟
۲. په پخوا زمانو کې به له کاغذ څخه پرته په نورو کومو شيانو باندې ليکل شوي وي؟
۳. کاغذ به د لومړي ځل له پاره چېرته جوړ شوی وي؟

په تېرو زمانو کې کتاب نه و. زموږ پلرونو به کيسې په ياد زده کولې او بيا به يې خپلو ماشومانو ته ويلې، چې په همدې ډول دا کيسې پېړۍ، پېړۍ نورو نسلونو ته رسېدلې. خو څرنګه چې دا کيسې ډېرې زياتې وې او ټولې به يې په ياد نه پاتې کېدې نو دوی د داسې شي په فکر کې شول چې د کيسو په ساتلو کې ورسره مرسته وکړي. همدا وه چې ځينو خلکو به په لرګيو کې د يوې نښې په توګه نښانې کولې او ځينو به په تارونو باندې رنګه رنګه غوټې جوړولې، چې د يوې ځانګړې کيسې څرګندونه به يې کوله.

وروسته په دې هم و پوهېدل، چې د تېره لرګي په څوکه په نرمه خټه باندې يوه نښه وباسي او په اور باندې يې پخه کړي ترڅو ډېر عمر پاتې شي چې همدا کار په حقيقت کې د کتاب د منځ ته راتلو پيل و.

تردې وروسته انسانان د ونو د پوټکي او پاڼو په تېره د پاپيروس د بوټي په پاڼو د ليکلو په فکر کې شول، چې څه نا څه تر ډېرې مودې پورې يې پاينښت درلود.

مصريانو کم له کمه (۵۰۰۰) کاله پخوا د پاپيروس د بوټي له پاڼو څخه يو ډول کاغذ جوړ کړ. کله چې و پوهېدل هغه له منځه ځي، نو د هغه په ځای يې د ژوو پوستکي د ليکلو له پاره غوره کړل.

او د کتاب په څېر يې ترې کار واخيست، خو دغو کتابونو يوازې په مالدارو خلکو پورې اړه درلوده. د زرګونو کلونو وروسته بيا په چين کې د اوسني کاغذ ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابتدایي او لومړنی شکل منځ ته راغی. وروسته په جرمني کې د چاپ ماشین جوړ شو، چې دکتاب د لیکلو، ترتیبولو او چاپولو له پاره سمه لاره پرانیستل شوه.
لنډه دا چې د اوسني کتاب د لیکلو پړاو دډېرو زیارونو له امله منځ ته راغی او اوس د ټول جهان انسانان ترې ګټه اخلي او خپلې غوښتنې، نظریات او افکار د نړۍ له خلکو سره په دې وسیله شریکوي.

نوي لغتونه:
(پېړۍ ـ قرن) (غوره- بهتر) (علامې ـ نښې) (کرښې ـ خطونه) (غوښتنې ـ هیلې)
(پاپېروس د اوقیانوس د دریاب په غاړه د پلنو پاڼو درلودونکی بوټی و.)

ښوونکي ته لارښوونې:
۱. ښوونکی دې متن ولولي او په دې هکله دې زده کوونکو ته معلومات وړاندې کړي.
۲. د کتاب دمنځ ته راتلو بهیر دې په ساده وینا ووایي.
۳. متن دې د املا په توګه په زده کوونکو باندې ولیکي.
۴. د پاپېروس، د چاپ ماشین او د ژوو په پوستکو باندې دې خبرې وکړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:
۱. زده کوونکي دې متن ولولي او دهغه په هکله دې معلومات وړاندې کړي.
۲. د جملو نیمګړې برخې دې په مناسبو کلمو سره بشپړې او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

الف. مصریانو تقریباً پنځه زره کاله پخوا ______________ جوړ کړ.
ب. داوسني کاغذ ډېر ابتدایي شکل په ______________ کې منځ ته راغی.
ج. په جرمني کې د ________ اختراع شو چې د ________ کار یې ډېر آسانه کړ.
هـ. انسانان کله چې و پوهېدل د پاپېروس پاڼې له منځه ځي نو د ________ یې غوره کړ.

ارزونه:
۱. آیا زده کوونکي د کتاب د منځ ته راتلو په بهیر وپوهېدل؟
۲. زده کوونکي د کتاب په ارزښت او اړتیا باندې هم پوه شول؟
۳. زده کوونکي متن لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:
زده کوونکي دې د کتاب د منځ ته راتلو بهیر په ساده نثر په خپلو کتابچو کې ولیکي او سبا ته دې خپلو همځولو ته په ټولګي کې ولولي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست

حضرت علي (کرم الله وجه)

موخې:

۱. د حضرت علي (کرم الله وجه) پېژندنه.
۲. د حضرت علي (کرم الله وجه) د خلافت په هکله پوهېدل.
۳. د متن لوستل او ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. په تېرو ټولګيو کې مو د صحابه کرامو نومونه اورېدلي دي؟
۲. آيا تاسو د حضرت علي کرم الله وجه په هکله څه معلومات لرئ؟

حضرت علي کرم الله وجه په زړورتيا شهرت درلود. پلار يې ابو طالب نومېده. له هجرت څخه يوويشت کاله مخکې په مکې معظمې کې زېږېدلی او د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) ځلورم يار و.

حضرت علي کرم الله وجه له وړکتوب څخه د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) سره مينه درلوده او دهغه د اخلاقو پيروي يې کوله. کله چې حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د خدای (جل جلاله) له خوا پيغمبر و ټاکل شو. حضرت علي کرم الله وجه لومړی کوچنی ماشوم و، چې ايمان يې ور باندې راوړ او د اسلام په مبارک دين مشرف شو.

حضرت علي کرم الله وجه ډېر لوی عالم، غښتلی، زړور او د نېکو اخلاقو خاوند و. د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) له کړو وړو سره يې زياته مينه درلوده. له خلکو سره به يې تل ښه چلند کاوه. په اخلاص، توره، مېړانه، زړورتيا او جهاد کې يې ساری نه درلود.

کوم وخت چې حضرت عثمان (رضی الله عنه) په شهادت ورسېد. حضرت علي کرم الله وجه د مسلمانانو خليفه شو. د خلافت په موده کې يې ډېر فتوحات وکړل. د خلافت څخه مخکې يې هم د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) سره په ډېرو غزاګانو کې برخه اخيستې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثلور کاله او څو میاشتې یې خلافت وکړ. په پای کې د عبدالرحمن بن مُلجم له خوا د هجرت په څلوېښتم کال دروژې په اوولسمه ورځ په شهادت ورسېد.

ښوونکي ته لارښووني:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او دهغه په مفهوم باندې دې رڼا واچوي.
۲. متن دې د املا په توګه په زده کوونکو باندې ولیکي.
۳. د حضرت علي کرم الله وجهه په شخصیت باندې دې وغږېږي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او دهغه په مطلب دې خبرې وکړي!
۲. دحضرت علي کرم الله وجهه په هکله او ربډلي کېسې دې نورو ته ووایي.
۳. دا لاندې پوښتنې دې ولولي او دهغو ځوابونه دې په کتابچو کې ولیکي.

الف. حضرت علي کرم الله وجهه د چا زوی او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره یې څه نسبت درلود؟
ب. حضرت علي کرم الله وجهه په کوم کال کې زېږېدلی دی؟
ج. د حضرت علي کرم الله وجهه د شخصیت په هکله معلومات ورکړئ!
د. حضرت علي کرم الله وجهه د چا له خوا او په کوم کال کې په شهادت ورسېد؟

ارزونه:

۱. زده کوونکو د حضرت علي کرم الله وجهه شخصیت وپېژاند؟
۲. آیا زده کوونکي و پوهېدل چې حضرت علي کرم الله وجهه لومړی ماشوم و چې په اسلام مشرف شو؟
۳. زده کوونکي متن لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې دحضرت علي کرم الله وجهه په هکله معلومات په خپلو کتابچو کې ولیکي او په یاد دې زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست

کلمه اود هغې ډولونه

موخې:

۱. د کلمې په معنا او مفهوم باندې پوهېدل.
۲. د کلمو د ډولونو پېژندل.
۳. په ليکلو او لوستلو کې د کلمو سم کارول.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آيا تاسو د کلمې په هکله څه اورېدلي او پوهېږئ چې کلمه څه معنا لري؟
۲. موږ په خبرو اترو کې له کلمو څخه کار اخلو؟
۳. ستاسو په فکر به کلمې ټولې يوشان وي او که توپير لري؟

کلمه:

هغه کوچنی ژبنی توکی دی چې ځينې يې په خپله پوره معنا او خپلواک مفاهيم لري. ځينې يې په يوازې توګه معنا نه ورکوي، خو دجملو د معناوو په بشپړولو کې لويه ونډه اخلي. کلمې په لومړي سر کې د معنا له مخې په دوو لويو برخو وېشل شوي: خپلواکې او ناخپلواکې کلمې.

خپلواکې کلمې:

هغه کلمې چې په خپله معنا ولري او په هغوی کې ټول نومونه، قيدونه او ټولې فعلي ډلې راځي لکه: احمد، زه، ښه، لايق، راغی او نور....

ناخپلواکې کلمې:

هغه کلمې دي چې په خپلواکه توګه معنا نه لري، خو له خپلواکو کلمو سره چې يو ځای شي د جملې معنا بشپړوي او بدلوي.

په ناخپلواکو کلمو کې سرينې، پسينې، د ربط، دعطف، تاړي(وندونه) او نور راځي.

لکه: و، به، له، د، نه، سره، څخه، ځينې، او نور....

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

ونډه- برخه | توپیر – فرق
ډله- ګروپ | لړۍ – سلسله

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د هغه په برخه کې دې په بشپړه توګه څرګندونې وکړي.
۲. د لاندې موضوعګانو په هکله دې پوره څرګندونې وکړي.
الف. کلمه څه ته وايي؟
ب. کلمه په څو برخو وېشل شوې ده؟
ج. خپلواکې کلمې کومې دي او کومې برخې په کې شاملېږي؟
د. ناخپلواکې کلمې څه ته وايي او کومې کلمې په کې برخه لري؟

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د هغه په مرسته دې لاندې برخې بشپړې کړي!

الف. کلمې هغه کوچني ژبني توکي دي چې ....
ب. کلمه په دوو لویو برخو وېشل شوې چې ....
ج. په خپلواکو کلمو کې دا برخې شاملې دي ....
د. په ناخپلواکو کلمو کې دا برخې شتون لري ....
هـ. خپلواکې او ناخپلواکې کلمې له یو بل څخه دا توپیرونه لري چې ....

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي دکلمې په معنا او مفهوم باندې و پوهېدل؟
۲. آیا زده کوونکي د خپلواکو او ناخپلواکو کلمو ترمنځ توپیر کولی شي؟
۳. زده کوونکي متن سم لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن په مطلب باندې خبرې وکړي او هغه دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست

د خپلواکو کلمو ډولونه

موخې:
۱. د خپلواکو کلمو په معنا او مفهوم باندې پوهېدل.
۲. په متن کې د خپلواکو کلمو پېژندنه.
۳. په لیکلو او لوستلو کې د خپلواکو کلمو سمه کارونه.

هڅوونکې پوښتنې:
۱. تاسو د خپلواکو کلمو په هکله څه اورېدلي دي؟
۲. زموږ په خبرو اترو کې به هم له خپلواکو کلمو څخه کار اخیستل شوی وي؟
۳. ستاسو په فکر خپلواکې کلمې به نور ډولونه هم ولري؟

خپلواکې کلمې په دوو لویو برخو وېشل شوي دي: اسمي او فعلي برخې.
اسمي (نومیزې) برخې: چې نومونه، صفتونه، ضمیرونه، او شمېر نومونه (عددونه) په کې شامل دي.

نوم (اسم): هغه خپلواکه معنا لرونکې کلمه ده چې د ټولو شیانو (موجوداتو) او اشخاصو له پاره راشي.
لکه: احمد، مېز، عقل، دود، اکسیجن، شېدې، ونه، او نور...

دنوم ډولونه:
نوم دا ډولونه لري: نارینه نوم، ښځینه نوم، مفردنوم، مرکب نوم، ډله ییز (د جمعیت) نوم د وخت نوم، د آلې نوم، دمعنا نوم، د ذات نوم، عام نوم، خاص نوم، او نور ......
له دې جملې څخه به ځینې نومونه له مثالونو سره وګورو!
د ذات نوم: هغه کلمې دي، چې دیوه حس کېدونکي شي له پاره راشي
لکه: قلم، کتاب، احمد، میز.
دمعنا نوم: هغې کلمې ته وایي، چې مادي وجود ونه لري لکه: پوهه، عقل، علم، ننګ.
خاص نوم: هغه کلمه ده، چې دیوه ځانګړي شي یا شخص له پاره راشي لکه: احمد شاه بابا، کابل، کندهار.
عام نوم: چې د همجنسو شیانو یا اشخاصو له پاره راوړل شي لکه: سړی، نجلۍ، کتاب، ښار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنس نوم: چې په یوه نه شمېرېدونکي شي پورې اړه ولري او لږ او ډېر وته یو شان و کارول شي لکه: اوبه، تیل، غوړي، وریښم.

دجمعي نوم: چې په یوه ډله او جمعیت پورې اړه ولري لکه: رمه، ګله، ولس، خلک.

د صوت نوم: هغه کلمه ده چې دطبیعي او غیر طبیعي غږونو له پاره راشي لکه: ترهار، شر وشور، ترنګ وترونګ.

نوي لغتونه:

شمېرنوم- (عدد)	ځانګړی – مشخص
نه شمېرېدونکي- بې حسابه	

ښوونکي ته لارښووني:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او په هره برخه دې خبرې وکړي.
۲. د خپلواکو کلمو برخې دې جوتې او ځرګندې کړي.
۳. په اسمي برخو کې دې شاملې کلمې ځرګندې او روښانه کړي.
۴. نوم او د هغه ډولونه دې په جلاجلا توګه وښيي. د مثالونو په ورکولو سره دې یو له بله توپیر کړي او زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې په دوه کسیزه توګه متن ولولي او یو بل ته دې تشریح کړي!
۲. زده کوونکي دې په خپل ټولګي کې د شیانو نومونه په یوه لست کې ولیکي او په هغو کې دې د نوم ډولونه وښيي.

لکه: مېز (عام نوم)　　کتاب (عام نوم)　　هلک (ذات نوم)

زموږ د تاریخ استاد سرور خان (خاص نوم)

۳. زده کوونکي دې دا لاندې بیتونه ولولي. نومونه دې په کې پیدا او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

که یې فکر ستا له فکره مخالف وي　　شپه او ورځ که درسره وي آشنا نه دی

لمر که راشي په تندي باندې له پاسه　　ته چې وینې له خوبه نه یې سبا نه دی

ارزونه:

۱. زده کوونکو خپلواکې کلمې وپېژندلې؟
۲. زده کوونکي د خپلواکو کلمو په ډولونو باندې هم و پوهېدل؟
۳. زده کوونکو نومونه او د هغو ډولونه وپېژندل؟
۴. زده کوونکي له خپلواکو کلمو څخه په لیکنه او لوستنه کې کار اخیستلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په پورتني شعر کې نومونه پیدا کړي او د هغه ډولونه دې په کې وښيي او په کتابچو کې دې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست

امیر کروړ

موخې:
۱. د لومړني شاعر او غښتلي پهلوان په توګه دامیر کروړ (جهان پهلوان) پېژندنه.
۲. دپخوانیو نامتو کسانو پېژندل.
۳. د متن لوستل او لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:
۱. تاسو په پښتو کې د لومړني شاعر په هکله څه فکر کوئ؟
۲. د پښتو د شعر او شاعرۍ پیل به له کوم وخته او د چا په واسطه شوی وي؟
۳. آیا تاسو د امیر کروړ نوم اورېدلی، په دې برخه کې څه معلومات لرئ؟

امیر کروړ دسوري کورنۍ هغه نومیالی او توریالی امیر و، چې د پښتو ژبې د ېرنامتو شاعر تېر شوی دی. امیر کروړ د امیر فولاد سوري زوی په (۱۳۹) هـ ق دغور په مندیش کې امیر شو. د خپل مټ په زوریې ډېرې سیمې ونیولې. دی داسې غښتلی او پهلوان و، چې له سلوتنو جنګیالیو سره به په یوازې توګه جنګېده نو ځکه یې کروړباله چې معنا یې کلک او غښتلی دی.

امیر کروړ ډېر عادل، مهربان او د ټینګې ارادې څښتن و. له خپلو خلکو سره یې دیوه خدمتګار مشر په توګه چلند کاوه. ښه وینا یې درلوده. په شعرونو کې یې سوچه او سپېڅلې پښتو کلمې کار ولې دي. امیر کروړ د عباسیانو په پلوۍ له بني اُمیه و سره ډېرې جګړې وکړې، چې زیاتې سو بې یې په برخه شوې. دهغو په ویاړ یې دا شعرونه وویل، چې ویاړنه یې بولې. او د پښتو شعرونو په لړکې لوړه حماسي ترانه ده.

د تاریخي سندونو له مخې دا شعر لومړنی شعر بلل شوی، ځکه چې مخکې له دې څخه کوم بل شعري سند نه لرو، خو د دغه شعر له پوخوالي او لرغونتوب څخه څرګندېږي چې له دې شعر څخه پخوا به هم نورو شاعرانو شعرونه ویلي وي. ځکه چې لومړني شعر ته ډېر وخت په کاردی، ترڅو د غسې پوخوالي ته ورسیږي امیر کروړ په (۱۵۴) هـ ق کال د پوشنګ په جګړو کې مړ شو. د ده د حماسي ترانې سر دادی:

زه یم زمری پردې نړۍ له ما اتل نشته   په هند و سند و په تخار و په کابل نشته
بل په زابل نشته له ما اتل نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

کروړ- سخت | سوبه- فتح | غبنتلی- قوي، توانمن
ویاړ- افتخار | چلند- کړنه، رویه | ویاړنه- فخرکونه
اتل- قهرمان | بری – کامیابي

ښوونکي ته لارښووني:

۱. ښوونکی دې متن ولولي دهغه په معنا او مطلب دې زده کوونکو ته وغږېږي.
۲. لوست دې په زده کوونکو باندې د املا په توګه ولیکي.
۳. له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې د لوست لغتونه په خپلو کتابچو کې ولیکي او یوه یوه مناسبه جمله دې ورته جوړه کړي.
(غبنتلی- سوبه- جګړه- ویاړ)

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي دهغه مطلب دې په لنډه توګه زده کړي.
۲. زده کوونکي دې د دغو جملو تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړي او په کتابچو کې دې ولیکي.

الف. امیر کروړ په .... هـ ق کال د غور په مندېش کې امیر او په ....کې وفات شو.
ب. امیر کروړ ډېر غبنتلی او پهلوان و، چې له سلو جنګیالیو سره جنګېده ځکه یې نو............. باله.
ج. د امیر کروړ له ویاړني څخه دمخه کوم بل شعري سند نه لرو، ځکه یې په اوسني وخت کې ...... شعر بللی شو.
د. امیر کروړ د خپلو سوبو په ویاړ شعرونه و ویل چې ....یې بولي.
(۱۵۴ هـ ق - ۱۳۹ هـ ق - ویاړنه- لومړنی- کروړ)

ارزونه:

۱. زده کوونکو امیر کروړ و پیژانده؟
۲. زده کوونکي په دې پوه شول چې د امیر کروړ ویاړنه لومړنی پښتو شعر دی؟
۳. زده کوونکي متن لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د درس مطلب په لنډه توګه په خپلو کتابچوکې ولیکي او هغه دې په یاد زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوو لسم لوست

متل څه ته وايي

موخې:

۱. زده کوونکي بايد وپوهېږي چې متل څه ته وايي؟
۲. د متلونو ارزښت په خبرو او ويناوو کې.
۳. د متلونو سم کارول په لوستلو او ليکلو کې.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو متلونه اورېدلي او د هغو په مطلب باندې پوهېږئ؟
۲. تاسو متلونه زده کړي او ويلی يې شئ؟
۳. زموږ خلک ولې په خبرو اترو کې کله ، کله متلونه کاروي؟

متلونه د پښتو ژبې په ولسي ادب کې يوه غوره او په زړه پورې برخه ده.
متلونه هغه لنډې وينا وې دي چې ډېر لوی او پراخ مطلب په کې ځای شوی وي.
د متلونو ويونکي معلوم نه دي. په هره زمانه کې ويل شوي او د هغو په وسيله د ټولنې دودونه او د خلکو افکار له يوه نسل څخه بل نسل ته لېږدول کېږي. د متلونو اغېزه په ژبه کې دومره زياته ده چې په خبرو اترو کې يې د يوه ټينګ استدلال په توګه راوړي.
دا برخه په پښتو ادب کې ډېره شتمنه اوبډايه ده چې شمېر يې زرګونو ته رسېږي.
ځيني متلونه به د مثال په توګه وګورو:

کبرجن د خدای (جل جلاله) دښمن دی.
خپله ژبه هم کلا ده هم بلا.
کوږ بار تر منزله نه رسېږي.
په يوه څپېړه سل مخه خوږېږي.
خپل عيب د ولو منځ، د بل عيب د کلو منځ دی.
د تورې پرهار جوړېږي خو د ژبې پرهار نه جوړېږي.
ښه خوی د خلکو ښکار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

ولس-	خلک	پرهار-	زخم، ټپ	ولی-	شانه
استدلال-	دلیل راوړل	شمېر-	اندازه، حساب	شتمنه-	بډایه
اغېزه-	تاثیر				

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د متلونو په ارزښت دې وغږېږي.
۲. زده کوونکي دې وهڅوي چې په خپلو خبرو او ویناوو کې متلونه وکاروي.
۳. متن دې په زده کوونکو باندې د املا په توګه ولیکي.
۴. دا کلمې دې په تخته ولیکي او زده کوونکې دې په کتابچو کې ورته جملې جوړې کړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې په تمثیلي بڼه په یوه عمل کې وښيي چې کوږ بار تر منزل نه رسېږي.
۲. دا نېمګړي متلونه دې بشپړ او په کتابچو کې دې ولیکي.
۳. د ټولګیوالو په مخ کې دې لاندې متلونه بشپړ او د هغه په مطلب دې خبرې وکړي.

الف. په یوه ښپېره ....
ب. خپل عیب د ولو.................................
ج. کیږدی په خپلو ....
د. مه کوه په چا چې......................
هـ. ناپوه دومره په بل ....

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي متلونه ویلی شي او په مطلب یې وپوهېدل؟
۲. آیا زده کوونکي پوه شول چې هر متل ځانته د کارولو ځای، ارزښت او موخه لري؟
۳. آیا زده کوونکي په خپلو خبرو او لیکنو کې متلونه کار ولی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متلونو په مطلب ځان پوه کړي او خو متلونه دې په یاد زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست

د پټې خـــزانـې لیکوال

موخې:

۱. زده کوونکي دې پخواني مشهور کتابونه او دهغو لیکوالان وپېژني.
۲. د پخوانیو آثارو په ارزښتونو باندې پوهېدل.
۳. د متن لوستل او لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو له پخوانیو کتابونو څخه د کوم یوه نوم اورېدلی دی؟
۲. آیا تاسو پټه خزانه نومی کتاب لیدلی یا هغه پېژنئ؟
۳. تاسو د پخوانیو کتابونو یا لیکوالانو په هکله څه ویلی شئ؟

پټه خزانه دپښتو ژبې د ادبیاتو په لړ کې یو ارزښتناک کتاب دی چې محمد ((هوتک)) په ۱۱۴۱ هـ کال په کندهار کې دشاه حسین هوتکي پښتون واکمن په لارښوونه لیکلی دی.

محمد ((هوتک)) په (۱۰۸۴) هـ ق د کندهار په کوکران کې زېږېدلی، د پلار نوم یې داود خان او د نیکه نوم یې قادر خان ((هوتک)) دی. ده د خپل وخت علوم له خپل پلار څخه ولوستل. لوی عالم او پوخ شاعر شو. دده ټول عمر د کتابونو په لوستلو او لیکلو کې تېر شوی دی.

محمد ((هوتک)) په خپله پټه خزانه نومي لرغوني کتاب کې د پنځوسو نارینه او ښځینه شاعرانو د ژوند پېښې او د شعرونو بېلګې ذکر کړي دي. په دې ترتیب یې له سل هجري کال څخه تر یوولس سوه هجري کلونو پورې د پښتو د شعر او ادب تاریخ خوندي ساتلی دی.

محمد ((هوتک)) نور کتابونه هم لیکلي چې خلاصة الفصاحت او خلاصة الطب نومېږي او د شعرونو یو ښکلی دیوان هم لري چې بوللې او غزلې یې په کې راوړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

خوندي- ساتلي　　ورړ- ښايسته او لايق　　پيښې- واقعې

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د هغه په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. په زده کوونکو دې متن د املا په توګه وليکي.
۳. دپخوانيو ليکوالانو اود کتابونو د ارزښت په برخه کې دې معلومات وړاندې کړي.
۴. معلومات دې ورکړي چې د پټې خزانې غوندې مشهور لرغوني کتابونه او د هغو د ليکوالانو پېژندنه څه ګټه لري؟

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې په دوه کسيزه توګه متن ولولي او يو بل ته دې مطلب و وايي.
۲. دا لاندې نېمګړې برخې دې بشپړې کړي او په خپلو کتابچو کې وليکي.

الف. د محمد هوتک پټه خزانه د.....................
ب. په پټه خزانه کې د پنځوسو تنو...............
ج. د محمد هوتک د پلار او نيکه نوم.........
د. د محمد هوتک نور کتابونه دادي:............

ارزونه:

۱. زده کوونکي د پټې خزانې په هکله لنډه څرګندونه کولی شي؟
۲. زده کوونکي په دې وپوهېدل چې د پټې خزانې کتاب د خپل وخت د ليکوالانو او شاعرانو يو ښه تاريخ هم دی؟
۳. زده کوونکي متن لوستلی او ليکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د پټې خزانې په هکله لنډه څرګندونه وکړي.
زده کوونکي دې دالاندې لغتونه معنا ، بيا دې په جملو کې وکاروي او په کتابچو کې دې وليکي.

(شاعران- پخواني- خوندي، عالم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم لوست

مطالعه

موخې:

۱. په مطالعې او د هغې په ارزښت باندې پوهېدل.
۲. د زده کوونکو عملاً مطالعې ته هڅول.
۳. د متن سم لوستل او سم لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو د مطالعې په معنا او دا چې څرنګه مطالعه وکړو پوهېږئ؟
۲. څه فکر کوئ چې مطالعه کول څه ډول کړنه ده؟
۳. موږ ولې باید تل مطالعه وکړو؟

مطالعه داسې کړنه ده، چې د انسان له سترګو او مغزو څخه د ناپوهۍ پردې لرې کوي. مطالعه انسان له مختلفو ارزښتناکو موضوعګانو څخه خبروي. انسان دې ته هڅوي چې باید د علم او پوهې څښتن شي.

د مطالعې له برکته انسان علم او کمال ته رسېږي. دماغي ځواک ته یې وده او پراختیا ورکوي. ترڅو انسان وکولی شي د ښو او بدو ترمنځ د توپیر په پوهېدو سره د دنیا او آخرت د ښه والي له پاره زیار وباسي او هڅه وکړي، چې د خپل هېواد ولسونه وپوهوي.

همدا راز مطالعه انسان د خپل ژوند له مسوولیتونو څخه خبروي. هغه ته دا لارښوونه کوي، چې انسان ډېر مسوولیتونه لري. باید په هغو پوه شي او هغه وپېژني. همدا مطالعه ده، چې موږ پرې خپل ځان او خپل رب (جل جلاله) پېژنو. له خپل خالق سره اړیکې ټینګوو او د اسلام د سپېڅلي دین او شریعت په هکله پوهېږو. په لارښوونو یې عمل کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو له همدې امله په قرآن کريم کې هم په دې خبره باندې ټينګار شوی، چې د پوهې او مطالعې په وسيله دخپل ژوند غوره لاره پيدا کړئ او په هغې لارې باندې روان شئ.

نوي لغتونه:

هڅه- زيار او کوښښ ،	پراختيا- لويوالی، ارتوالی،	سپيځلی- پاک
نړۍ- دنيا	ګټور- ګټه لرونکی	ځواک- توان
غوره- بهتر ، انتخاب شوی	کړنه- عمل	

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د مطالعې په ارزښت دې خبرې وکړي.
۲. ښوونکی دې د متن څو کرښې داملا په توګه په زده کوونکو باندې په کتابچو کې وليکي.
۳. ښوونکی دې په متن کې سره ورته او متضادې کلمې وښيي او زده کوونکي دې وليکي.
مترادفې کلمې لکه: زيار او کوښښ ـ علم اوپوهه ـ پوهه او دانش ....
متضادې لکه: ښه او بد ـ پوهه او ناپوهي ـ تور او سپين............................

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د هغه په مطلب دې وغږيږي.
۲. زده کوونکي دې د مطالعې په ارزښت او د هغې په ترتيب باندې خبرې وکړي.
۳. زده کوونکي دې دا لاندې نيمګړې جملې په مناسبو کلمو سره بشپړې او په کتابچو کې وليکي.

الف. مطالعه د انسان له سترګو او مغزو څخه .... پردې لرې کوي.
ب. مطالعه انسان دې ته هڅوي چې ښايي د..............ښتن شي.
ج. د مطالعې په وسيله انسان د .... ترمنځ توپير کولی شي.
د. مطالعه انسان دخپل ژوند له ....څخه خبروي.
هـ. په قرآن کريم کې هم ټينګار شوی دی چې د مطالعې په وسيله د خپل ژوند .... پيدا کړئ.
(دښو او بدو- مسوولیتونو- غوره لار - علم او پوهې- جهل او ناپوهي)

ارزونه:

۱. آيا زده کوونکي د مطالعې په مفهوم او ارزښت باندې وپوهېدل؟
۲. آيا زده کوونکي په دې و پوهېدل او دا ذهنيت يې پيدا کړ چې بايد تل مطالعه وکړي؟
۳. آيا زده کوونکي متن لوستلی او ليکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د مطالعې په هکله يوه لنډه مقاله په خپلو کتابچو کې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوارلسم لوست

ناخپلواکې کلمې

موخې:

۱. د ناخپلواکو کلمو پېژندل.
۲. په جملو کې د ناخپلواکو کلمو ارزښت او د هغو کارول.
۳. د متن لوستل او ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آيا تاسو د ناخپلواکو کلمو په هکله څه اورېدلي دي؟
۲. آيا ناخپلواکې کلمې هم په جملو کې خپل ځای او ارزښت لري؟
۳. آيا موږ په خپلو خبرو اترو کې هم ناخپلواکې کلمې کاروو؟

ناخپلواکه توکي او کلمې:

هغه کوچني توکي چې په يوازې توګه نه کار ول کېږي. که په ځانګړې توګه وکارول شي معنا نه ورکوي. لکه: و- د- له- بې- کې- سره- ځينې......

ناخپلواکه توکي ډېر ډولونه لري چې ځينې يې دا دي:

۱. **سرينې:** هغه توکي چې له خپلواکو کلمو څخه د مخه را شي. لکه: په کور کې ناست وم. له احمد سره راغلم. د نيکونو غونډې مو وطن وساته!

۲. **پسينې:** هغه توکي دي چې تر خپلواکو کلمو وروسته راشي. لکه: د خبرو له پاره وخت نه لرم. په چا پورې نه خاندم، افغانانو په تاريخ کې خپله مېړانه ښودلې ده.

۳. **د ربط توري:** هغه توکي دي چې د يوې جملې د اجزاوو ترمنځ د ترون له پاره راځي. او دوه جملې يا دوه برخې سره و نښلوي. لکه: زه را غلم خو ته نه وې. تا درس ولوست ليکن دی نه و راغلی.

۴. **د عطف توري:** هغه توکي دي چې د دوو کلمو يا دوو برخو ترمنځ راشي او يوه برخه له بلې برخې سره وتړي.

لکه: پښتو او ويدي دواړه لرغوني ژبې دي. پښتو د افغانستان رسمي او ملي ژبه ده. زه او ته ناست وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

توکي- برخې، اجزاوې	مېړانه- مردانګي
ترون- پیوستون	لرغونی- پخوانی

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. متن ولوله د خپلواکو او ناخپلواکو کلمو ترمنځ توپیر وښیه.
۲. د ناخپلواکو کلمو ارزښت په جملو کې وښیه.
۳. د متن د هرې برخې څرګندونه په مثالونو کې وکړه.

د زده کوونکو فعالیتونه:

زده کوونکي دې متن ولولي او د هغه په مطلب دې خبرې وکړي.
د ښوونکي په لارښوونه دې زده کوونکي په لاندې جملو کې ناخپلواکې کلمې (سرینې، پسینې، د عطف او دربط (اړوند) توري) په نښه کړي.

الف. علم او پوهې ته ډېره پاملرنه وکړئ!
ب. هېواد پوهو او هوښیارو خلکو ته اړه لري.
ج. زموږ په ټولګي کې پوه زده کوونکي ډېر دي.
د. هوسی په نجونو کې ډېره ښه نجلۍ ده. خو دلته ډېره نه راځي.
هـ. زه له کار څخه نه ستړی کېږم، اما وخت نه لرم.

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي د ناخپلواکو کلمو په معنا او مفهوم وپوهېدل؟
۲. آیا زده کوونکي د خپلواکو او ناخپلواکو کلموترمنځ توپیر کولی شي؟
۳. آیا زده کوونکي متن لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د ناخپلواکو کلمو په هکله په لنډ ډول په خپلو کتابچو کې څرګند مثالونه راوړي او په یاد دې زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسم لوست

دلقمان حکیم نصیحتونه

موخې:

۱. د لقمان حکیم په خبرو او نصیحتونو باندې پوهېدل.
۲. د دې ډول نصیحتونو عملي کولو ته دزده کوونکو هڅونه.
۳. د متن لوستل او لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آیا تاسو د لقمان حکیم نوم اورېدلی دی؟
۲. آیا تاسو د لقمان حکیم په هکله د چا نه څه اورېدلي دي؟
۳. لقمان حکیم خپل زوی ته څه ډول نصیحتونه کول؟

د لقمان حکیم نصیحتونه خپل زوی ته:

۱. له نېک او هوښیار سړي سره مصلحت کوه!
۲. استاد د پلار په شان وبوله!
۳. له بې عقلو او ناپوهو خلکو څخه تبنته!
۴. یوځل ویل شوې خبره دوهم ځل مه تکراروه!
۵. د ګټې او تاوان له پاره خپل عزت له لاسه مه ورکوه!
۶. د خلکو د خبرو په منځ کې مه ورلوېږه.
۷. مېړانه د ځان عادت وګرځوه.
۸. دلمر ختو په وخت کې مه ویده کېږه!
۹. د بل کورته چې ځې سترګې، ژبه او لاسونه په واک کې ولره!

نوي لغتونه:

مېړانه- نارینتوب　　یوځل- یو وار　　واک- اختیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د هغه په هکله دې خبرې وکړي.
۲. نصیحتونه دې د املا په توګه په زده کوونکو باندې ولیکي.
۳. متن دې په زده کوونکو باندې په وار سره ولولي او د هغه په مفهوم دې وغږېږي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د هغه په اړه دې خبرې وکړي.
۲. زده کوونکي دې په دوه کسیزه توګه متن ولولي. بیا دې یو بل ته د هغه مرام څرګند کړي.
۳. زده کوونکي دې دا لاندې لغتونه وروسته تر معنا په جملو کې وکاروي او په کتابچو کې دې ولیکي.

(پوه، ګټه، مېرانه، واک، ستر)

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي د لقمان حکیم په نصیحتونو باندې وپوهېدل؟
۲. آیا زده کوونکي نصیحتونه له یاده ویلی شي؟
۳. آیا زده کوونکي متن لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د لقمان حکیم نصیحتونه په کتابچو کې ولیکي او هغه دې په یاد زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاړسم لوست

وزیر محمد اکبرخان

موخې:

۱. د وزیر محمد اکبر خان پېژندنه.
۲. د هېواد د غازیانو او اتلانو له تاریخ څخه خبرېدل.
۳. د متن لوستل او لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آیا تاسو د وزیر محمد اکبر خان نوم اورېدلی او هغه پېژنئ؟
۲. تاسو له انګریزانو سره د آزادۍ په جګړو کې د غازیانو او اتلانو نومونه اورېدلي دي؟
۳. مور ولې د خپل هېواد د تېرو وختونو غازیان او اتلان یادوو؟

زموږ په هېواد کې ډېر نومیالي غازیان او اتلان تېر شوي دي، چې له هغو څخه یو هم وزیر محمد اکبر خان دی. وزیر محمد اکبر خان د امیر دوست محمد زوی او په ۱۲۳۲ هـ ق کال کې زېږېدلی و.

غازي محمد اکبر خان د افغان او انګلیس په لومړۍ جګړه کې له غازیانو سره یو ځای د هېواد په آزاد ولو کې ډېره لویه ونډه اخیستې وه.

وزیر محمد اکبر خان د ډېرو ښو اخلاقو څښتن و. پر بې وزلو زړه سواند او د ظالمانو او تیري کوونکو سخت مخالف و.

په جګړه کې د جنګي اسیرانو او د نیول شوو بندیانو قدر یې د میلمنو په شان کاوه. د هغو روغتیا او سلامتیا ته به یې پاملرنه کوله. تردې پورې چې د هغوی په ټپونو باندې به یې په خپله پټۍ لګولې.

د خپل هېواد له خلکو سره یې ډېره مینه درلوده او خپلو خلکو ته له ډېرو خدمتونو څخه وروسته د ۳۰ کلو په عمر په ۱۲۲۲ کال کې وفات او د ده له سپارښتنو سره سم په مزار شریف کې خاورو ته وسپارل شو. روح دې ښاد وي.

نوي لغتونه

اتلان- قهرمانان   ټپونه- زخمونه، پرهارونه   ونډه- برخه
نومیالي- مشهور   تیري کوونکي- ظالمان   جنګي اسیران- په جګړو کې نیول شوي بندیان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لاښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د وزير محمد اکبر خان د شخصيت په هکله دې خبرې وکړي.
۲. متن دې د املا په توګه په زده کوونکو باندې وليکي.
۳. په متن کې راغلي کلمې او د هغو ډولونه دې د ګرامر له مخې وښيي او په زده کوونکو دې وليکي.

لکه: وزير محمد اکبر خان (خاص نوم) دی.

الف. امير دوست محمد خان ( )		هـ- سلامتيا ( )	
ب. مزار شريف ( )		و- جګړه ( )	
ج. افغان ( )		ز- هېواد ( )	
د. غازيان ( )			

زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او بيا دې د هغه مطلب په ساده توګه و وايي.
۲. زده کوونکي دې دغو پوښتنو ته ځوابونه ووايي.

الف. وزير محمد اکبر خان د چا زوی و؟
ب. وزير محمد اکبر خان کوم ښه صفتونه در لودل؟
ج. وزير محمد اکبر خان د هېواد د خپلواکۍ له پاره څه ډول خدمتونه کړي دي؟
د. د وزير محمد اکبر خان مړينه په کوم کال پېښه شوې او مقبره يې چېرې ده؟

ارزونه:

۱. آيا زده کوونکو وزير محمد اکبر خان و پېژانده؟
۲. آيا زده کوونکي په دې وپوهېدل چې وزير محمد اکبر خان د هېواد د خپلواکۍ په ګټلو کې لويه ونډه اخيستې وه؟
۳. آيا دوی د وزير محمد اکبرخان په هکله معلومات ور کولی شي؟
۴. آيا متن لوستلی او ليکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د وزير محمد اکبر خان لنډه پېژندګلوي په خپلو کتابچو کې وليکي او هغه دې په ياد زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوو لسم لوست

د شاعر ډالۍ

موخې:
۱. زده کوونکي باید د ډالۍ په معنا او مفهوم وپوهېږي.
۲. د متن لوستل او لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:
۱. تاسو د ډالۍ په معنا او مفهوم پوهېږئ؟
۲. ستاسو په فکر ظلم کول څه ډول عمل دی؟
۳. تاسو څه فکر کوئ چې شاعر به ظالم او مظلوم ته په کومه سترګه ګوري؟

زه چې ور غلم هغه په کوټنۍ کې ناست و. سریې په ګرېوان کې ښکته کړی و. فکري عبادت یې کاوه.

کله چې یې سر را پورته کړ او پرما یې نظر ولګېد. ما خپله ډالۍ (د یوه پړانګ پوستکی او یو غزنیچی پوستین) دهغه په مخ کې کېښودل.

هغه وویل: ((دا د یوه ظالم پوستکی دی څکه له پښو لاندې لوېږي، او دا بل د کمزورو له پوستکو څخه جوړ دی او په غاړې پورې اړه لري.دشاعر ډالۍ ښایي همدغسې وي او همدغه معنا ولري.

دی باید دا دوه منظرې همدغه راز وښیې او خلک په دغه رمز پوه کړي.)) په دغو خبرو زه له خوبه را ویښ شوم او په خوب کې د خپل خوب په تعبیر پوهېدلی وم.

نوي لغتونه:

ډالۍ-	تحفه	رمز-	راز
کوټنۍ-	، وړه کوټه	همدا راز-	همدا ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او دهغه په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. د زده کوونکو پام دې ته را واړوي چې يو شاعر ظالم او مظلوم څه ډول را ښيي؟
۳. متن دې د املا په توګه په زده کوونکو باندې وليکي.
۴. د تېرې کوونکو دکړو وړو ځينې مثالونه دې د نمونې په توګه ووايي.

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې مطلب ولولي او دهغه په هکله دې خبرې وکړي!
۲. په دې هکله دې هم خبرې وکړي چې خلک تېري کوونکو ته په کرکه ګوري.
۳. دا لاندې کلمې دې په مناسبو جملو کې راوړي.

الف. ډالۍ
ب. مظلوم
ج. کوټنی
د. تعبير
هـ. خلک

ارزونه:

۱. آيا زده کوونکي د درس په معنا او مطلب باندې وپوهېدل؟
۲. آيا زده کوونکي په دې هم پوه شول چې د تېري کوونکو او مظلومانو کړه وړه ډېر توپير لري؟
۳. آيا زده کوونکي متن لوستلی او ليکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په متن کې متضادې کلمې پيدا، هغه دې په جملوکې وکاروي او په کتابچو کې دې وليکي.

(ظالم اومظلوم ـ توراوسپين ـ ښه او بد)

اتلسم لوست

تاړي (وندونه)

موخې:

۱. زده کوونکي دې له خپلواکو کلمو سره تاړي وپېژني.
۲. د تاړو (وندونو) په کارولو باندې پوهېدل.
۳. د متن لوستل او ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آيا تاسو د تاړو يا وندونو نوم اورېدلی دی؟
۲. آيا تاسې پوهېږئ چې تاړي په خپلواکو کلمو کې ډېر ارزښت لري؟
۳. آيا تاسې پوهېږئ چې تاړي هم لکه نورې کلمې په ويناوو او ليکنو کې ډېر ارزښت لري؟

تاړي (وندونه)

تاړي هغه نا خپلواکې کلمې دي چې د خپلواکو کلمو په سر او پای کې نښلول کېږي. او نورې کلمې ترې جوړېږي.

تاړي دا ډولونه لري مختاړي او وروستاړي:

۱- مختاړي (پيشوندونه)

هغه ناخپلواکې کلمې دي چې د کلمو په سرکې نښلول کېږي لکه دکار له کلمې سره: بېکار، همکار، ناکاره، سرکار، خود کار همدارنګه: مه کوه، نه کول، نازړه، بې زړه، بې فکره، بې لاسه، بې پوهې.

۲- وروستاړي (پسوندونه)

هغه نا خپلواکې کلمې دي چې د کلمو په پای کې ونښلي او نورې کلمې ترې جوړې شي.

لکه: (د کار له کلمې سره وروستاړي) کارګر، همدارنګه پوهنتون، ورين، غمجن، ختګر، زرګر، ولسوال، مېوندوال، احمدزی، شريفه، طلايي، لوبغالی، ښوونکی، وياړونه او نور.

نوي لغتونه:

ورين-	پشمي او له وړيو جوړ شوی	لوبغالی-	د لوبو ځای
پروردګار-	پالوونکی، ساتونکی	وياړونه-	افتخارات

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او په ناخپلواکو کلمو دې رڼا واچوي.
۲. خپلواکو کلمو کې دې تاړي او د هغو ډولونه له بېلګو سره وښيي.
۳. په کلمو کې دې تاړي او دهغو ارزښت وښيي.
۴. متن دې د املا په توګه په زده کوونکو باندې وليکي.

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن په دوه کسيزه توګه ولولي او دهغه مطلب دې په ياد زده کړي.
۲. زده کوونکي دې په دې لاندېنيو جملو کې تاړي په نښه او په کتابچو کې و ليکي.

الف. چا ته بده خبره مه کوئ!

ب. په زورورو باندې قهر او غضب ډېر برلاسی وي.

ج. پښتو زما مورنۍ ژبه ده.

د. افغانستان ډېر تاريخي وياړونه لري.

هـ. بې علمه ژوندون ګران دی.

و. کتاب زما يوازينی ملګری دی.

ارزونه:

۱. زده کوونکو وندونه يا تاړي وپېژندل؟
۲. زده کوونکي د وندونو ډولونه په کلمو کې ښودلی او کارولی شي؟
۳. زده کوونکي متن لوستلی او ليکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په دې لاندېنيو کلمو کې تاړي را وښيي او په خپلو کتابچو کې دې وليکي.

(ورکتون لوبغاړی، لوبغالی، زيارکښ، وطنوال، بې وطنه، بې فکره، افغانستان، هندوستان، ياران)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست

د افغانستان طبيعي زېرمې

موخې:

۱. زده کوونکي باید د خپل هېواد طبیعي زېرمې وپېژني.
۲. د طبیعي زېرمو په ارزښت او ساتلو باندې وپوهېږي.
۳. متن سم ولولي او سم يې وليکي.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. طبيعي زېرمې څه ته وايي؟
۲. تاسو د طبيعي زېرمو په هکله څه اورېدلي دي؟
۳. موږ په خپل هېواد کې طبيعي زېرمې لرواو هغه به څه شی وي؟
۴. زموږ د هېواد غرونه، ځنګلونه او سيندونه څه ارزښت لري او په طبيعي زېرمو کې ګڼل کېږي؟

زموږ ګران وطن افغانستان يو غرنی هېواد دی. زياتره غرونه يې په مرکزي شمالي، ختيځو او نورو برخو کې پراته دي چې په آب و هوا يې ډېره ښه اغېزه کړېده.

غرونه د واورو له امله د يخچالونو پراخې سيمې جوړوي چې په بدخشان کې لوی پامير د يوه طبيعي پارک په توګه يا دولی شو. همدارنګه د هندوکش، سليمان، او د ترکستان د تيربند د غرونو لړۍ د يادولو وړ دي چې لوی، شتمن کانونه او معدنونه لري.

زموږ په هېواد کې ولاړې اوبه يا جهيلونه هم د ښکلو منظرو په شان موجود دي لکه: د غزني ولاړې اوبه او د باميانو بنداميرد، چې د بهرنيو سيلانيانو پاملرنه يې هم ځانته را اړولې ده.

ځنګلونه هم دطبيعي زيرمو غوره برخه ده، چې د غرونو په لمنو کې يې د ژوو او ځناورو له پاره ځړ ځايونه او داستوګنې سيمې جوړې کړېدي. سربېره پردې چې د هوا په ښه والي او پاکوالي کې يې مرسته کړې ده، د سيلابونو او وچو بادونو مخنيوی هم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګلونه زموږ د هېواد په مرکزي، ختیځو، او جنوبي سیمو لکه لویه پکتیا ،ننګرهار کونړونو، بادغیس، بدخشان او هرات کې موجود دي.
د دغو طبیعي شتمنیو ساتنه او پالنه د هر افغان ایماني او ملي دنده ده ځکه پوهېږو، چې ونې د وخت په تېرېدو سره د مرضونواو نورو علتونو په سبب له منځه ځي او ولې یې پرې کېږي. که موږ د هغو په ساتنه او ډېربښت کې ټینګه پاملرنه و نه کړو، دغه طبیعي شتمني به زموږ نورو نسلونو ته پاتې نه شي.

نوي لغتونه:

ختیځ-	شرق ، د لمر راختلو ځای	ثرځایونه-	دخریدو ځایونه.
کانونه –	معدنونه	لویدیځ-	غرب دلمر لوېدلو ځای
ډېربښت-	ډېروالی	کمښت –	کموالی

ښوونکي ته لارښووني:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د طبیعی زیرمو په هکله دې معلومات وړاندې کړي.
۲. متن دې په زده کوونکو باندې د املا په توګه ولیکي.
۳. په افغانستان کې دې د غرونو او سیندونو په موقعیت او ارزښت خبرې وکړي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زد کوونکي دې متن ولولي او د طبیعي زیرمو په ارزښت دې خبرې وکړي.
۲. د خپل هېواد طبیعي شتمنۍ دې په ساده ډول وښیي.
۳. دا لاندې کلمې دې وګوري او د هغو هم معنا کلمې دې ورته پیدا کړي.

الف. زېرمې	دارایي	پیسې	ذخیرې
ب. اغېزه	هوا	تاثیر	لاندې
ج. ثرځایونه	صحرا	د خړېدو ځای	د اوسېدو ځای
د. جهیلونه	یخچالونه	ولاړې اوبه	ښکلې منظرې
هـ. طبیعي زېرمې	آب وهوا	هستي	طبیعي شتمني

ارزونه:

۱. زده کوونکي د طبیعي زېرمو په ارزښت وپوهېدل؟
۲. د خپل هېواد طبیعي زېرمې یې و پېژندلې، چې کومو شیانو ته ویل کېږي؟
۳. متن لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او په لنډه توګه دې هغه په یاد زده کړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلم لوست

خوشحال خان خټک!

موخې:

۱. د خوشحال خان خټک پېژندنه.
۲. له پخوانيو شاعرانو او اديبانو سره د زده کوونکو پېژندګلوي.
۳. د متن لوستل او ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آيا تاسو له پخوانيو شاعرانو څخه د خوشحال خان نوم اورېدلی دی؟
۲. څه فکر کوئ چې خوشحال خان څه ډول شاعر و؟
۳. له خوشحال خان څخه به موږ ته څه شی را پاتې وي؟

خوشحال خان خټک د پښتو ژبې يو نوميالی، تنګيالی او توريالی شاعر دی چې د افغان په ننګ يې توره تر ملا کړې وه لکه چې خپله وايي:

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالی د زماني خوشحال خټک يم.

خوشحال خټک له ۲۵۰ زيات کتابونه لکيلي وو او په خپل زيار يې داسې بنه ور ښښلې وه چې نامتو ليکوالان پرې هم نازېږي لکه الفت صاحب چې ويلي دي:

خوشحال خان خټک ته!

دادب او د شعر لويه قهرمانه — د مُغلو په کور تندر له آسمانه
د وطن د آزادۍ سخت جګړه کې — له هرچا نه زړور مرد ميدانه
ستا د شعر مصرع لا ډېره تېره ده — بې ننګي ټوټې ټوټې ستاله بيانه
دا د رزم او د بزم په مجلس کې — هلته بازدلته بلبل هزار داستانه
هم رستم هم فردوسي د يو داستان يې — هم شاعر هم مُفکر هم پهلوانه
ستا ديوان که په ادب کې لوی شهکار دی — تا په توره کې هم کړی ډېر لوی کار دی
د افغان په ننګ ترلې توره تا وه — درسره لويه آرزو لويه سودا وه

الفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

فردوسي.	د دري ژبې لوی شاعر	رزم–	جګړه
بزم-	مجلس او ناسته	مفکر-	فکرکوونکی
رستم-	دفردوسي په شهنامه کې دیوه قهرمان نوم و.	شهکار-	ډېر لوړ کار
مُغل-	د یوه قوم نوم و چې د بابر کورنۍ ور پورې منسوبه وه.		

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې ذکر شوی شعر د کتاب له مخې ولولي او پوره دې معنا کړي.
۲. د خوشحال خان په شخصیت او ادبي خدمتونو باندې دې خبرې وکړي.
۳. شعر دې د املا په توګه په زد ه کوونکو باندې ولیکي.
۴. شعردې په زده کوونکو باندې په نثر واړ وي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي د ې شعر ولولي او معنا دې کړي.
۲. زده کوونکي دې دا جملې ولولي او په کتابچو کې دې ولیکي.

الف. خوشحال خان د خپلې زمانې ملي اتل، ستر ادیب،او لوی شاعر و.

ب. له خوشحال خان څخه د پښتو ژبې د نظم او نثر کتابونه را پاتې دي.

ج. خوشحال خان دخپلې خاورې د آزادۍ له پاره د مُغلو له لویې امپراتورۍ سره ډېر جنګونه او جګړې کړېدي.

د. خوشحال خان په خپل وخت کې د خپلو خلکو او قام ستر مخکښ او لارښود و.

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي د خوشحال خان له نومیالیتوب او پوهې څخه خبر شول؟
۲. آیا زده کوونکي و پوهېدل چې خوشحال خان ختک د پښتو ژبې لوی شاعر تېرشوی دی؟
۳. آیا زده کوونکي د شعر له مطلب څخه متن لیکلی او لوستلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د خوشحال خان ختک په هکله یوه لنډه او په زړه پورې مقاله ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ويشتم لوست

ستاينوم (صفت)

موخې:

١. دستاينوم يا صفت پېژندنه.
٢. په خبرو او ليکنو کې د صفتونو سم کارول.
٣. د متن سم لوستل او سم ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:

١. آيا تاسو له صفت سره آشنا ياستئ او هغه پېژنئ؟
٢. صفت څه ته وايي او ولې هغه بايد وپېژنو؟
٣. زموږ په خبرو او ليکنو کې صفت هم شامل دی؟

صفت هغه کلمه ده چې د نوم حالت او څرنګوالی ښيي. صفتونه تل له خپل موصوف سره يو ځای راځي. لکه: توري ځپلۍ، شين آسمان، پوه هلک او نور.

دصفت مهم ډولونه:

١. **اصلي صفتونه:** هغه دي چې دنوم ذاتي ښه والی او بدوالی ښيي لکه: توره تخته، ښه سړی، هوښياره نجلۍ، جګه ونه، ناپوه سړی، سپين کاغذ.
٢. **نسبتي صفتونه:** هغه کلمې چې نسبت يې بل نوم، شي يا حالت ته وشي لکه: کابلی، ميوندوال، سليمان خېل، قيمتي، طلايي، اونور.
٣. **مجرد صفتونه:** هغه دی چې يوازې يو مجرد وصفي مفهوم وي يعنې خارجي وجود و نه لري. لکه: لېونتوب، لوړتيا هوښيارتيا، پښتونولي.
۴. **اشاري صفتونه:** هغه صفتونه چې د هغو په واسطه موصوف ته اشاره وشي لکه: دغه نجلۍ درس وايي. هغه ونه سوړسيوری لري، دا د ابن سينا ښوونځی دی، هغه ښځه ډوډۍ پخوي.

نوي لغتونه:

صفت – ستايل
ستاينوم- صفت يا د نوم ستايونکی
ياد ونه- موصوف هغې کلمې ته وايي چې صفت د هغه له پاره راغلی وي لکه: توري ځپلۍ چې تور يې صفت او ځپلۍ يې موصوف دی، په اشاري صفت کې دغه نږدې اشاره – هغه لرې اشاره او هوغه ډېره لرې اشاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي اودهغه په هکله دې په جلا جلا توګه څرګندونې وکړي.
۲. متن دې په زده کوونکو باندې د املا په توګه ولیکي.
۳. له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې د خپل ځان د غړو نومونه د صفت او موصوف په شکل را وړي، او په زده کوونکو دې په کتابچو کې ولیکي.

لکه: تورې ځپلې ـ سپین غاښونه ـ ښکلې لاسونه ـ جګه ونه او لوی زړه..........

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن په دوه کسیزه توګه ولولي او یو بل ته دې څرګندونې وکړي.
۲. د خپل ټولګي او چاپېریال د ځینو شیانو نومونه دې د صفت او موصوف په توګه راوړي او بیا دې په کتابچو کې ولیکي.

لکه: سپین دیوال، لوی صنف، ښکلي ګلان، پوه زده کوونکي، تور قلم، لایق ښوونکی، داهلک، او هغه ونه ....

۳. په دې لاندې متلونو کې دې صفت او موصوف په نښه او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

الف. ترناداں دوست څخه هوښیار دښمن ښه دی.
ب. له بې پته ژوند څخه مرګ غوره دی.
ج. کوږ بار تر منزله نه رسېږي.

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي دصفت او موصوف په معنا او مفهوم وپوهېدل؟
۲. د صفت ډولونه یې هم وپېژندل؟
۳. په خبرو او لیکنو کې له دې وروسته صفتونه کارولی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن مطلب په خپلو کتابچوکې ولیکي او په یاد دې زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست

قیمتي ډبرې

موخې:

۱. د قیمتي ډبرو په خصوصیاتو او ارزښتونو باندې پوهېدل.
۲. زده کوونکي د خپل هېواد قیمتي ډبرې وپېژني.
۳. متن سم ولولي او سم يې وليکي.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو داسې رنګه ډبرې لیدلې چې له عادي ډبرو څخه توپیر ولري؟
۲. تاسو پوهېږئ چې ګټورې، رنګه او ښکلې ډبرې په کوم نامه یادېږي؟
۳. زموږ په هېواد کې رنګه او ښکلې ډبرې شته، هغه څه ارزښت لري؟

زموږ چاپېریال له طبیعي موادو څخه ډک دی. ځینې ډبرې يې له هغو موادو څخه دي چې په غرونو او درو کې په بېلابېلو ډولونو سره پیدا کېږي. د دغو ډبرو طبیعي رنګونه ډېر ښکلي او په زړه پورې دي چې د منرالونو په نامه یادېږي.

منرالونه هغه ډبرې دي، چې په طبیعي توګه ښکلې او مختلف شکلونه لري. ځینې ځلا لرونکي، ځینې يې نیمه ځلا لرونکي او ځینې نورې يې بې ځلا دي.

ځلا لرونکي منرالونه په طبیعي توګه ښُکلي، ارزښتمن او په زړه پورې رنګونه او شکلونه لري. چې له دغو ډبرو څخه د غمیو په توګه په ګاڼو او زېورونو کې کار اخیستل کېږي لکه: یاقوت، زمرد، لاجورد، عقیق، الماس او نور.

یاقوت ځلا لرونکې ډبره ده چې ډېر صفا سور رنګ لري. زمرد په ښکلي شنه رنګ پیدا کېږي.

عقیق هم تور، سپین، ژېړ او نور رنګونه لري. الماس تر ټولو ډبرو د لوړې بیې او ځلا لرونکې دی. چې سپین روښان رنګ لري او ډېر لږ پیدا کېږي.

په دې ترتیب تر ۳۵ ډوله زیاتې مختلفې قیمتي ډبرې زموږ د ګران هېواد په طبیعت کې موجودې دي. چې د بدخشان، پروان، کندهار، نورستان، کابل، میدان، او د نورو مرکزي سیمو له غرونو څخه لاس ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

ډبره- تیږه   ګاڼې – زیورات

ښوونکي ته لاربښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د قیمتي ډبرو په هکله دې زده کوونکو ته معلومات ورکړي.
۲. د قیمتي ډبرو په رنګونو دې خبرې وکړي.
۳. زموږ په هېواد کې دې د هغو سیمو نومونه په زده کوونکو باندې تکرار کړي چې قیمتي ډبرې لري.
۴. متن دې د املا په توګه په زده کوونکو باندې په کتابچو کې ولیکي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د هغه په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. زده کوونکي دې د لاندې کلمو په مرسته نیمګړې جملې بشپړې او بیا دې په کتابچو کې ولیکي.

الف. هغه قیمتي ډبره چې ډبره کمه او ډېره کلکه ده، ....نومېږي.
ب. هغه ډبرې چې په طبیعي توګه ښکلي او مختلف شکلونه لري، .... نومېږي.
ج. یاقوت صفا او ځلا لرونکې ډبره ده چې، ....رنګ لري.
د. په طبیعت کې .... قیمتي ډبرې یا منرالونه موجود دي.

(۳۵ ډوله – سور – الماس – منرالونه)

۳. زده کوونکي دې په لوستل شوي متن کې څو صفتونه پیدا کړي او په کتابچو کې دې ولیکي.

ارزونه:

۱. زده کوونکي و پوهېدل چې زموږ ګران هېواد هم ښکلي او با ارزښته قیمتي ډبرې لري؟
۲. زده کوونکو قیمتي ډبرې او دهغو ډولونه و پېژندل؟
۳. د لوستل شوي متن کلمې لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن په خپلو کتابچو کې ولیکي او دهغه مطلب دې په یاد زده کړي.

درویشتم لوست

کمپیوټر

موخې:

۱. زده کوونکي باید کمپیوټر وپېژني.
۲. د نړۍ له نوو اختراعاتو او اکتشافاتو څخه خبر شي.
۳. د متن لوستل او ليکل وکړای شي.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو د کمپیوټر نوم اورېدلی او د هغه په هکله څه ویلی شئ؟
۲. تاسو څه فکر کوئ چې کمپیوټر به کوم کارونه سرته رسولی شي؟

کمپیوټر هغه نوی ماشین دی چې د انسانانو بې شمېره ټولنیزې ستونزې حل کړې او لاد بشر په خدمت کې دی. دا ماشین د لومړي ځل له پاره په ۱۹۴۲ م کال د امریکایي (الاتا سوټ بری) په وسیله اختراع شو او له هغه وخت څخه یې تر اوسه ډېره پراختیا موندلې ده.

کمپیوټر له څلورو اساسي برخو څخه جوړ شوی دی.

لومړۍ برخه یې سکرین یا مانیتور نومېږي. دا هغه پرده یا صفحه ده چې د کمپیوټر پروګرامونه او خپروني په کې لیدل کېږي.

دوهمه برخه: (پي، سي، یو) ده، چې د کمپیوټر اساسي او مهمه برخه ګڼل کېږي او همدې برخې ته د کمپیوټر حافظه وایي.

دریمه برخه: یې د کیبورډ برخه ده، چې د کمندونو توري او نورې لارښوونکې کلې په دې برخې پورې اړه لري.

څلورمه برخه: د (موس) mouse یا موږک په نامه یادېږي، چې کمندونه د هغه په وسیله کارول کېږي.

کمپیوټر ټول معلومات په خپله حافظه کې ساتي که څوک هر وخت وغواړي له هغه څخه کار اخیستلی شي او هم کولی شي چې هغو معلوماتو ته بدلون ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

مډرن- ډېر نوی او پر مختللی | ستونزې – کړاوونه او مشکلات | بدلون- تغیر

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې د کمپیوټر متن ولولي او د هغه په هکله دې زده کوونکو ته څرګندونې وکړي.
۲. د کمپیوټر متن دې په زده کوونکو باندې د املا په توګه ولیکي.
۳. د کمپیوټر د دغو برخو په هکله دې څرګندونې وکړي.
الف. د کیبورډ برخه یعني.................................
ج. مانیتور هغه پرده ده چې ....
د. د موس برخه هغه ده چې ....

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او په هغه دې خبرې وکړي.
۲. زده کوونکي دې له یو بل څخه دا برخې وپوښتي:

الف. موس د کمپیوټر کومه برخه ده؟
ب. مانیتور څه ته وایي؟
ج. سي، پي، یو د کمپیوټر د کومې برخې نوم دی؟
د. کیبورډ په کمپیوټر کې څه شی دی؟

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکو کمپیوټر و پیژاند؟
۲. زده کونکي د کمپیوټر له بېلا بېلو برخو سره آشنا شول؟
۳. د کمپیوټر په کارونو او له هغو څخه په ګټه اخیستلو و پوهېدل؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د کمپیوټر د بېلابېلو برخو نومونه واخلي، هغه دې په یاد زده کړي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور ويشتم لوست

ضميرونه

موخې:

۱. د ضميرونو يا نومځرو پېژندل.
۲. په جملو کې د ضميرونو سم کارول.
۳. د متن سم لوستل او سم ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو کله دضمير کلمه اورېدلې ده؟
۲. ولې بايد ضميرونه وپېژنو؟

ضميرونه هغه کلمې دي چې د نوم پرځای د تکرار د لرې کولو لـه پاره راځي. لکه: زه، موږ، ته، تاسې، دی، دا، دوی، هغه ، دغه، هغوی.

د ضميرونو مهم ډولونه دادي:

۱- شخصي ضميرونه:

هغه دي چې ديوه شخص يا وګړي له پاره راشي لکه:

د متکلم له پاره:	زه -	ما -	موږ
د مخاطب له پاره:	ته -	تا -	تاسې
دغائب له پاره:	دی -	دا -	دوی

مثالونه: زه راغلم ته نه وې! _ دوی راغلل _ ما کتاب واخيست.

۲- اشاري ضميرونه:

هغه دي چې شخص يا شي ته د اشارې له پاره راشي لکه: دغه وايي، هغه راغی، دا زما ملګری دی. اشاري ضميرونه عموماً د نږدې لـه پاره (دغه) _ د لرې لـه پاره (هغه) او ډېر لرې له پاره (هاغه) د اواز په تغير راځي.

۳- ملکي يا اضافي ضميرونه:

هغه ضميرونه چې ملکيت ونيسي لکه: زموږ وطن د نوميـاليو کـور دی. ستا کړنـه مې خوښه شوه. زما قلم ښه دی. د دوی کتابونه وساته! قلم مې راکړه! غـږ دې نـه اوريدل کېږي. بکس يې واخيست.

د متکلم له پاره: (مې)
د مخاطب له پاره: (دې)
د غائب له پاره: د (يې) ضميرونه راوړل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

وګړي- خلک، مخاطب ـ اوریدونکی، متکلم ـ ویونکی،

غائب ـ چې حاضر نه وي (دریم سړی)

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د هغه په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. ضمیرونه او د هغو ډولونه دې په مثالونو کې له توپیر سره بیان کړي.
۳. متن دې په زده کوونکو باندې تکرار او په یاد زده کړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې په دې لاندې جملو کې د ضمیر ډولونه را وښيي.

الف. دا زما استاد دی.

ب. دوی ټول ټولګي ته را غلل.

ج. ورور مې له بهر څخه را ورسېد.

د. موږ د جمعې په ورځ میلې ته ځو.

هـ. زه سبا ته د امتحان له پاره چمتو یم.

۲. زده کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړي او بیا دې په کتابچو کې ولیکي.

الف. ضمیرونه تعریف او په مثالونو کې یې څرګند کړئ!

ب. شخصي ضمیر کوم ډول ضمیر ته ویل کیږي؟ په ټولګي کې یې مثالونه ور کړئ!

ج. اشاري ضمیرونه څه ته وایي؟ آیا په ټولګي یا ښوونځي کې یې مثالونه ویلی شئ؟

د. ملکي یا اضافي ضمیرونه وښیئ، د کورنۍ په غړو کې یې مثالونه ور کړئ!

لکه: زما پلار ډېر کار کوي، زما ورونه زده کوونکي دي، مور مې ډاکټره ده.

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکو ضمیرونه وپېژندل؟
۲. زده کوونکي د ضمیرونو په ډولونو هم و پوهېدل؟
۳. زده کوونکو په جملو کې ضمیرونه پېژندلي او هغه لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او دهغه مطلب دې په ساده ډول په یاد زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست

لنډۍ

موخې:

۱. زده کوونکي باید لنډۍ وپېژني.
۲. د لنډیو توپیر له نورو اشعارو سره کولی شي.
۳. لنډۍ لوستلی او لیکلی شي.

هڅوونکي پوښتنې:

۱. آیا تاسو د لنډیو په برخه کې څه اورېدلي دي؟
۲. تاسو ویلی شئ چې لنډۍ به څه ډول اشعار وي؟
۳. تاسو پوهېږئ چې لنډۍ یوازې په کومه ژبه کې موجودې دي؟

لنډۍ هغه ولسي، ملي اشعار دي چې شاعران یې معلوم نه دي. د هر حساس پښتانه او پښتنې د زړه غږ او د احساساتو هنداره بلل کېږي. دا ملي اشعار یوازې د پښتو ژبې او پښتون ولس د ادبي میراث ستره پانګه ده چې په نورو ژبو کې یې ساری نه لیدل کېږي.
لنډۍ ډېر ډولونه لري. لکه: د هېواد پالنې لنډۍ، ټولنیزې لنډۍ، جنګي لنډۍ، عشقي لنډۍ او نورې.
له نورو اشعارو څخه د لنډیو توپیر دادی چې ویونکي یې معلوم نه دي. تر ویلو وروسته د خلکو مال ګرځي او ولسونه یې نسل په نسل یو بل ته لېږدوي.
دا اشعار څومره چې ساده او سپېڅلي دي، هغومره د نورو ژبو له اغېزو څخه هم پاک ساتل شوي. لنډۍ ځانته سیلابي سیستم لري، چې لومړۍ برخه یې لنډه (۹) څپې او دوهمه برخه یې اوږده (۱۳) څپې (سېلابه) ده.
د دغو اشعارو بله ځانګړتیا دا ده چې زیاتره د ښځو له خوا نارینه ووته ویلې شوي، نو ځکه اغېزمنې او د نازکو احساساتو ترجمانې دي. او هم د ژوند په بېلا بېلو حالاتو لکه د غم او ښادۍ، د تورې او مېړانې په وخت کې ویل شوي همدا دلیل دی چې عشقي، حماسي، اخلاقي، ټولنیزې او نورې ډول ډول لنډۍ موجودې دي. چې هره برخه یې ځانته خوند او اغېزه لري.
لکه په لاندې لنډیو کې:

پـه وطـن نـیمـه ډوډۍ ښـه ده
نه پـه پردي وطن کې غوښې پلـوونه

کـه تـور اوربـل مـې مـېراتـیـږي
په وطن جنګ دی جانان نه منع کومه

حماسي لنډۍ: هغه لنډۍ دي چې د تورې، مېړانې، جنګ او جګړو په هکله ویل شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

هنداره ـ آیینه، شپې ـ سیلاب، هیجا، ځانګړتیاوی- خصوصیات

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او دهغه په باب دې پوره څرګندونې وکړي.
۲. دلنډیو په جوړښت او هیجاوو باندې دې خبرې وکړي.
۳. متن دې په زده کوونکو باندې د املا په توګه ولیکي.
۴. په دې لاندې لنډیو کې دې د هغو ډولونه و ښيي.

که په میوند کې شهید نه شوې
خاونده سل ځله ژوند را کړې
که باران اوري و دې اوري
که د زلمو نه پوره نه شوه
وطن مې تن، تن مې وطن دی

خدا یږو لالیه بې ننګی ته دې ساتینه
چې د وطن په مینه سل ځله ځار شمه
واورې دې نه اوري چې لارې بندوینه
ګرانه وطنه! جنکۍ به دې ساتینه
د تن په بیه یې ساتم ترخو چې یمه

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او دهغه په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. زده کوونکي دې د لنډیو مهمې ځانګړتیاوې ولیکي.
۳. زده کوونکي دې لنډۍ ولولي او له یاده دې ووایي او بیادې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ارزونه:

۱. زده کوونکي د لنډیو په معنا او مفهوم و پوهېدل؟
۲. لنډۍ له نورو اشعارو څخه توپیرولی شي؟
۳. لنډۍ ویلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د لنډیو په هکله یوڅو کرښې ولیکي.
او لیکل شوي لنډۍ دې له یاده ووایي.

شپږ ویشتم لوست

د آیوډین روغتیایي ارزښت

موخې:

۱. زده کوونکي په دې وپوهیږي چې آیوډین څه ته وایي؟
۲. د آیوډین منبع دې وپېژني او د انسان په جسمي وده کې دې د هغه په ارزښت وپوهېږي؟
۳. متن سم ولولي او ویې لیکي.

هڅوونکي پوښتنې:

۱. تاسو دآیوډین کلمه اورېدلې په دې برخه کې معلومات لرئ؟
۲. ستاسو په فکر آیوډین زموږ په سلامتیـ کې کوم ارزښت لري؟
۳. تاسې پوهېږئ چې د آیوډین د کمښت څخه په وجود کې څینې ناروغیـ منځ ته راځي؟

کاني «معدني» مواد

منرالونه د انسان د بدن له پاره ډېر ګټور او اړین دي، چې آیوډین هم یو له دغو څخه دی. ډېر خلک یې د غذایي موادو او اوبو له لارې تر لاسه کوي. په هغو سیمو کې چې له سمندر څخه لرې وي او دماهي غوښې هلته (د آیوډین یوه ښه منبع ده) په آسانیـ سره نه پیدا کېږي. خلک یې د آیوډین په کمښت اخته وي.

څرنګه چې آیوډین د انسان په جسمي وده او د دماغ د حجرو په جوړولو کې ډېره اغېزه لري، نو که د ماشوم په بدن کې آیوډین لږ وي. ماشوم له د ماغي کمزورتیا سره مخامخ کېږي. د ذکاوت اندازه یې د نورو عادي کوچنیانو پرتله په ټیټه درجه کې راځي او د وجود وده یې په ټولو برخو کې ډېره سسته او ضعیفه وي. په لویانو کې د آیوډین د لږوالي له کبله د غاړې مخکنیـ برخه (غُده) چې تایراید نومېږي لویېږي. اوپه جاغور بدلېږي.

دهغو خلکو په بدن کې چې آیوډین کم وي باید په خوړو کې آیوډین لرونکي مالګه استعمال کړي.

د کبانو غوښې او نور هغه خواړه دي وخوري چې د آیودین لرونکي وي همدا راز د آیوډین لرونکو درملو خوړل هم په بدن کې د آیوډین کمښت له منځه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

کمښت- کموالی ‌‌ وده- لوېدل، نمو ‌ پرتله- مقایسه ‌ اغېزه- تاثیر ‌ درمل- دوا

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن د کتاب له مخې ولولي او د هغه په هکله دې معلومات وړاندې کړي.
۲. ښوونکی دې د لاندې برخو په هکله څرګندونه وکړي.
 الف. آیوډین څه ته وايي او په څه شي کې پیدا کېږي؟
 ب. د آیوډین کمښت په وجود کې څه ډول رنځونه پیدا کوي؟
 ج. د آیوډین له کمښت څخه پیدا شوې ناروغي، په څه شی جوړېږي؟
۳. ښوونکی دې متن د املا په توګه په زده کوونکو باندې ولیکي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او په هغه دې وغږېږي.
۲. زده کوونکي دې دا لاندې جملې د متن په لوستلو سره بشپړې کړي.

الف. د کبانو غوښه د .... یوه ښه منبع ده.
ب. د ماشوم په بدن کې د آیوډین کمښت، دی د .... سره مخامخ کوي!
ج. آیوډین لرونکي مالګې او............ په بدن کې د آیوډین کمښت له منځه وړي.
د. په لویانو کې د آیوډین په کموالی د......................... غده لوېږي او په جاغور بدلېږي.
هـ. هغه سیمې چې له سمندرونو څخه لرې وي د آیوډین په .... سره اخته کېږي.

دماغي کمزورتیا	- تایراید-	آیوډین –	کمښت	ـ درملونه

ارزونه:

۱. زده کوونکي په دې و پوهېدل چې آیوډین څه شی او څه ارزښت لري؟
۲. آیوډین لرونکي خواړه يې وپېژندل؟
۳. په دې هم پوه شول چې د آیوډین کمښت ډېرې ناروغۍ منځ ته راوړي؟
۴. متن لوستلی او په خپلو کتابچو کې یې لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د آیوډین لوست خپلو ورو خویندو او ورونو ته ولولي.
زده کوونکي دې د لوست مطلب په لنډ ډول په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه ویشتم لوست

شمېر نوم (عدد)

موخې:

۱. زده کوونکي دې عددونه وپېژني!
۲. په عبارتونو او جملو کې د شمېر نومونو پېژندل.
۳. د متن لوستل او ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو کله د عدد کلمه اورېدلې ده عدد (شمېر نوم) څه ته وايي؟
۲. په جملو کې راغلي عددونه پېژندلی شئ؟
۳. تاسو په عددونو سره کوم شی شمېرلی شئ؟

عــدد: هغه خپلواکه معنا واله کلمه ده چې د (نومونو) شیانو،او اشخاصو شمېر راښيي.

همدارنګه دهغوی درجه او رتبه هم څرګندولی شي. کوم شی چې د عدد په وسيله شمېرل کېږي معدود بلل کېږي.

د مـثـال پـه ډول: دوه ستركې، درې كتابونه، شل زده كوونكي، څلور هېوادونه.

په دغو مثالونو کې (دوه، درې، شل، څلور) عددونه بلل کېږي.

(سترګې، کتابونه، زده کوونکي او هېوادونه) معدود بلل کېږي.

د عـدد ډولـونه:

۱ - اصلي عددونه: چې يـوازې شمېر او کميت وښيي لـکـه: دوه ، درې، شـل اونور.

۲ - وصفي يا رتبي عـددونه: چې د معدود درجه او رتبه څرګنده کـړي.

لـكه: لسم لمبر، درېم كس، شلم پوړ، درېمه درجه اونور.....

۳ - کسري عددونه: هغه دي چې د معدود کسر او ماتوالی وښيي لکه: يونيم، دوه نيم، څلورمه برخه، پنځمه برخه او شلمه برخه.

يو په سلو کې   شل په سلو کې   لس په سلو کې   او نور....

نوي لغتونه:

شمېر – ګڼه	کميت - خومره والی
معدود – شمېر ل شوی شی	وصفي- ستايل شوی

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او دهغه پوره څرګندونه دې وکړي.
۲. اعداد او معدود دې د ټولګي په شيانو کې وښيي لکه: دوه قلمونه، لس هلکان.
۳. متن دې د املا په توګه په زده کوونکو وليکي.
۴. د انسان دبدن په غړو کې دې د عدد او معدود مثالونه ووايي لکه: دوه سترګې، يوسر، دوه پښې، پنځه ګوتې، دوه لاسونه، سل ويښته ...

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د عدد او معدود له پاره دې ډول ډول مثالونه وښيي.
۲. زده کوونکي دې په لاندې جملو کې عدد او معدود وښيي.

الف. خوشحال خان يو نامتو شاعر دی چې ۲۵۰ ټوکه کتابونه يې ليکلي دي.
ب. دځمکې درې برخې اوبه او يوه برخه يې وچه ده.
ج. هوښياره مرغۍ په دوولومو کې نښلي.
د. زموږ دځمکو له پيدا وارو څخه څلورمه برخه بزګرانو واخيسته.
هـ. د دولسم ټولګي درسونه په زړه پورې دي.

ارزونه:

۱. زده کوونکو عدد او معدود وپېژندل؟
۲. په متن او جملو کې عدد او معدود پېژندلی شي؟
۳. د درس متن لوستلی او ليکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې پنځه داسې جملې وليکي چې عدد او معدود په کې راشي او بيا دې په خپلو کتابچو کې وليکي! لکه: زه هر سهار دوه پيالي چای څښم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست

مېرمن زینبه

موخې:
١. د پښتنو د مشهورې شاعرې مېرمن زینبې پېژند ګلوي.
٢. په متن کې د کلمو ، جملو لیکل او لوستل.

هڅوونکې پوښتنې:
١. تاسو له پښتنو مېرمنو څخه کومه یوه پېژنئ؟
٢. تاسو د مېرمن زینبې نوم اورېدلی دی؟
٣. د مېرمن زینبې د پوهې او دهغې د شعرونو په هکله څه فکر کولی شئ؟

زموږ هېواد افغانستان ډېرې نومیالۍ مېرمنې لري، چې دهغو په پوهې، میړانې او کارنامو تل ویاړو. له دغو نامتو مېرمنو څخه یوه هم د ستر ملي مشر میرویس نیکه لور مېرمن زینبه ده. چې د ۱۱۴۲ هـ ق کلونو په شاوخوا کې یې ژوند کاوه.
مېرمن زینبې د خپل وخت دیني، ادبي کتابونه او همدا رنګه د شاعرانو دیوانونه ولوستل. مېرمن زینبه یوه فاضله مېرمن او له پیاوړو ښځینه شاعرانو څخه شمېرل کېدله چې ډېر ګټور اشعار ور څخه پاتې دي. دې دخپل ژوند په موده کې ډېرو نجونو او ښځو ته دیني زده کړه ورکړې او لیک لوست یې ور زده کړی و.
دا هوښیاره مېرمن د ژوند په چارو ډېره ښه پوهېده تردې چې ورور یې شاه حسین هوتک دسلطنت په چارو کې له دې څخه مشورې اخیستلې.
د دې د شعر یوه نمونه چې دخپل ورور شاه محمود هوتکي په ویر کې یې ویلې او په پټه خزانه کې ذکر شوې دا ده:

ږغ شو چې ورور تېر له دنیا سونا
کندهار واړه په ژړا سونا

زړه مې په ویر کې مبتلا سونا
چې شاه محمود له ما جدا سونا

دا روڼ جهان را ته تور تم دی نا
زړه د بېلتون په تېغ کړم دی نا

هوتک غمجن په دې ماتم دی نا
د پاچاهۍ تاج مو برهم دی نا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

پیاوړی-	غښتلی	ښېلتون-	جدايي
کړم-	زخمي	کارنامې-	ملي برياوې
وير-	غم، ماتم	تورتم-	توره تیاره

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن او شعر د کتاب له مخې ولولي او په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. متن دې په زده کوونکو باندې د املا په توګه ولیکي.
۳. د مېرمن زينبې په شخصیت او ادبي کارونو باندې دې وغږېږي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن په دوه کسيزه توګه ولولي او دهغه په مطلب دې مشوره وکړي.

۲. زده کوونکي دې متن او شعر تکرار اوپه یاد دې زده کړي.

۳. زده کوونکي دې دا جملې بشپړې او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

الف. مېرمن زينبې د خپل ژوند په موده کې ډېرو ښځو او نجونوته ....

ب. مېرمن زينبې خپل ورور شاه حسين هوتک ته ....

ج. مېرمن زينبې يوه وېرنه د ....

د. مېرمن زينبه د ستر ملي مشر................

ارزونه:

۱. زده کوونکو مېرمن زينبه وپېژندله؟
۲. و پوهېدل چې مېرمن زينبه يوه پوهه او هوښياره ښځه وه؟
۳. د مېرمن زينبې شعر لوستلی او ليکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د مېرمن زينبې د پېژندګلوۍ په برخه کې په لنډ ډول د درس مطلب ووايي او بيا دې په خپلو کتابچو کې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه ویشتم لوست

د پنسل اختراع

موخې:

۱. د لومړي ځل له پاره د پنسل د جوړېدو په هکله معلومات ورکول.
۲. دمتن لوستل او لیکل دي.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آیا تاسو پوهېږئ چې دپنسل قلم به څه ډول جوړ شوی وي؟
۲. تاسو فکر کولئ شئ چې دپنسل قلم به لومړی څه ډول و؟

دا څرګنده ده چې دپنسل قلم ټول زده کوونکي پېژني، خو په دې هکله به معلومات لاس ته راوړو چې د پنسل قلم د لومړي ځل له پاره څنګه جوړ شوی دی؟

په پخوا زمانو کې د سکرو په شان یوشی په انګلستان کې کشف شو، چې ګرافیت نومېده. او خلکو د رسم په کښلو کې ترې کار اخیسته، خو ستونزه دا وه، چې دې ګرافیت یا سکرو به لاسونه تورول. نو و پتیل شوه، چې دا ستونزه حل او کار اسان کړي.

همدا و چې ګرافیت یې د دوو لرګیو په منځ کې د تار په واسطه وتاړه. دا کار هم ستونزمن و ځکه چې دا لرګي باید خو ځلې خلاص او تړل شوي وای.

د کلونو په تېرېدو سره خلکو ته نوې نوې مفکورې پیدا شوې. په پایله کې یې دا پرېکړه وکړه:

لرګي چې په طبیعت کې ډېر او ارزانه پیدا کېږي. ګرافیت دې په دې توګه د لرګیو په منځ کې کېښودل شي، چې په آسانۍ سره د پنسل سر تېره او د لیکلو کار ترې واخیستل شي.

په همدې ډول د پنسل قلم چې تاسې کار ترې اخلئ ورو ورو په اوسنۍ بڼه او شکل منځ ته راغی.

نوي لغتونه:

ګرافیت- دسکرو په شان مواد   خوځلي- خوواره

ستونزه- کړاو   بڼه- شکل

ښوونکي ته لارښووني:

۱. ښوونکی دې متن د کتاب له مخې ولولي او د هغه په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. متن دې د املا په توګه په زده کوونکو باندې ولیکي.
۳. د پنسل دجوړېدو او منځ ته راتلو په پړاوونو دې وغږېږي.
۴. لاندې کلمې دې پـه تختـه ولیکـي او زده کـوونکي دې هغـو تـه جملـې جـوړې او پـه کتابچو کې دې ولیکي!   (ستونزمن ـ ګرافیت ـ تېره)

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. زده کوونکي دې په چوکاټ کې اړوندې کلمې په نښه او دیوې کرښې په مرسته دې وښيي.

نومونه	تېره، ستونزمن
صفتونه	تاسې، دغه
عدد او معدود	ګرافیت، انګلستان
ضمیرونه	لومړی ، دوه لرګي

ارزونه:

۱. زده کوونکي په دې و پوهېدل، چې پنسل لومړی ځل په څه ډول منځ ته راغی؟
۲. پوه شول، چې پنسل له څه شی څخه جوړېږي؟
۳. متن لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د پنسل دجوړېدواو منځ ته راتلو مطلب په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیرشم لوست

قیدونه

موخې:

۱. د قیدونو پېژندنه.

۲. د قیدونو په کارولو باندې پوهېدل.

۳. په متن کې د قیدونو پېژندل، لوستل او لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آیا تاسو د قید د کلمې په هکله څه اورېدلي دي؟

۲. تاسو دقید کلمې پېژنئ او په هغو باندې پوهېږئ، چې دقید کلمې له څه شي سره راځي؟

قید: هغه کلمه ده، چې دفعل دپېښېدو ځای، وخت او یا دهغه څرنګوالی وښیي. لکه: زه اوس راغلم.ته په جرئت ووایه! هلکان په منډه راغلل. ښوونکي درس ژر ژر ولوست.

دقید ډولونه:

۱. دزمان قید: هغه کلمه ده، چې دیو فعل دپېښېدلو وخت او زمان وښیي.

لکه: ما مې مور پرون ولیده، سپوږمۍ اوس راغله، زه پروسږکال بریالی شوم.

۲. د مکان قید: هغه کلمې، چې دیوه فعل د پېښېدلو ځای وښیي. لکه: احمد دلته دی، زه په ټولګي کې یم، احمد پاس وخوت، نجلۍ دلته وه، چوغکه پورته والوتله!

۳. د حالت قیدونه: هغه کلمې دي، چې دیوه فعل د پېښېدلو حالت وښیي. لکه: احمد په خندا راغی. سپوږمۍ له ژړا شنه شوه. تاکتاب ښه ولوست. زه په منډه راغلم. باران ورو ورو ورېږي.

نوي لغتونه:

پېښېدل- واقع کېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د قید ډولونه دې په مثالونو کې څرګند کړي.
۲. قیدونه دې په لاندې جملو کې په نښه او په زده کوونکو دې ولیکي.

الف. زموږ نیکونو خپله خاوره د خپلو متو په زور ساتلې ده.
ب. هر سړی له خپلې کورنۍ سره په خوشحالۍ ژوند کوي.
ج. په ښې هوا کې ماشومان ژر ژر وده کوي.
د. ښوونځي ته په منډه ولاړشه! چې ډېر ناوخته دی.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د قیدونو په برخه کې دې معلومات وړاندې کړي.
۲. زده کوونکي دې د متن په زده کولو سره دا جملې بشپړې او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

الف. قید هغه کلمه ده، چې ....
ب. د زمان قید هغه دی، چې ....
د. د حالت قید هغه قیدونه دي، چې............

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي د قید په معنا او مفهوم و پوهېدل؟
۲. زده کوونکي قیدونه په کلمو او جملو کې پېژندلی شي؟
۳. زده کوونکي قیدونه په ویلو او لیکلو کې کارولی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د څو ډولو قیدونو له پاره پنځه پنځه مثالونه په خپلو کتابچو کې ولیکي. اود قید ډولونه دې په کې وښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو د پرشم لوست

زلزله

موخې:

١. د زلزلې د پېښېدو په هکله پوهېدل.
٢. د زلزلې دسختوالي د اندازه کولو د آلې سره بلدتیا او دهغې پېژندنه.
٣. د متن سم لوستل او سم لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:

١. تاسو څامخا کوم وخت د زلزلې په ټکانونو پوهېدلي یاست او دزلزلې له کلمې سره آشنا یاستئ؟
٢. تاسو پوهېږئ، چې ولې زلزله پېښېږي؟
٣. د زلزلې د پېښېدو په وخت کې ولې ډارېږو؟

کله کله به تاسې هم د ځمکې په ښورېدو پوه شوی یاست. یا به مو د ځمکې د ټکانونو په نتیجه کې ډېرې خرابۍ لیدلې وي. د ځمکې د غو ښورېدو او ټکانونو ته زلزله وایي.

زلزله د خدای (جل جلاله) لوی آفت دی او د ځمکې په سر له ډېرو ناوړو پېښو څخه ګڼل کېږي، چې د زرګونو انسانانو او نورو ژوندیو موجوداتو د مرګ سبب ګرځي. ښارونه، کلي، باغونه او هر څه ویجاړوي. راځئ په دې ځان پوه کړو چې زلزله څنګه منځ ته راځي؟ ځمکې پېژندونکي پوهان او څېړونکي تر ډېرو علمي څېړنو وروسته دې نتیجې ته رسېدلي دي، د خدای (جل جلاله) په امر زلزله د ځمکې د لاندېنۍ برخې د ډبرو د حرکت او ښویېدو څخه منځ ته راځي. کله هم دا ډبرې له یوې بلې سره ټکرې خوري. یا هم له یوه فشار سره پورته خواوو ته زور کوي. هغه ځای چې دا پېښې په کې منځ ته راځي د زلزلې مرکز بلل کېږي. د زلزلې د ټکانونو زور او شدت په مرکز کې تر نورو ټولو ځایونو زیات وي.

ځمکه پېژندونکي او دجغرافیې پوهان د زلزلې زور او سختوالی د زلزله سنج په واسطه چې (ریکتر) نومېږي، اندازه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

آفت- مصيبت | ويجاړ- وران | پېښه- واقعه

ريکتر- هغه آله چې د زلزلې د زور او شدت اندازه پرې معلومېږي.

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. د زلزلې په عواملو دې معلومات ورکړي.
۳. متن دې د املاء په توګه په زده کوونکو وليکي.
۴. د زلزلو د مرکزونو په برخه کې دې معلومات وړاندې کړي او د ځينو مشهورو زلزله لرونکو ځايونو څخه دې ياد ونه وکړي لکه: جاپان ، اندونيزيا ، امريکا ، چين او هندوستان.

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او په مطلب دې وغږېږي.
۲. لاندې پوښتنو ته دې ځوابونه ووايي او بيا دې په کتابچو کې وليکي.

الف. زلزله څه شي ته وايي؟

ب. هغه ځای چې زلزله په کې پېښېږي او د زلزلې زور او سختوالی تر نورو ځايونو په هغه کې زيات وي څه نومېږي؟

ج. پوهان د زلزلې زور او شدت په څه شي اندازه کوي ؟

زده کوونکي دې د لاندې لغتونو معنا د چوکاټ له کلمو څخه پيدا او د هغو په مخ کې دې په خپلو کتابچو کې وليکي لکه:

الف. پېښه | ج. موجونه
ب. څېړونکي | د. ريکتر
هـ. آفت |

خپې ، مصيبت، زلزله سنج ، واقعه
هغه پوهان چې علمي څېړنې کوي.

ارزونه:

۱. آيا زده کوونکي د زلزلې په مطلب و پوهېدل؟
۲. زده کوونکي د زلزلو د پېښېدو په عواملو پوه شول؟
۳. زده کوونکي متن لوستلی او ليکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د زلزلې د پېښو او ورانيو په هکله څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه دېرشم لوست

رحمان بابا

موخې:
۱. د رحمان بابا د شخصيت پېژندنه.
۲. د رحمان بابا له شعر او شاعرۍ سره بلدتيا.
۳. د متن لوستل او ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:
۱. آيا تاسو د رحمان بابا نوم اورېدلی او هغه پېژنئ؟
۲. له رحمان بابا څخه به اشعار يا کوم کتاب را پاتې وي؟
۳. څه فکر کوئ، چې د رحمان بابا اشعار به کوم ښه والی ولري؟

عبدالرحمان بابا د پښتو ژبې نوميالی اديب او صوفي شاعر و، چې د پلار نوم يې عبدالستار او په ۱۰۴۲ هـ ق کال د پېښور په بهادر کلي کې زېږېدلی دی.

د رحمان بابا د لوړ شخصيت او پېژندنې له پاره دومره بس دی، چې ټول خلک ورته بابا وايي. نوموړی د اشعارو يو خوږ ديوان لري، چې لوړ ارزښتمن مضامين يې په ساده او ښُکلو الفاظو کې بيان کړي دي. د ده اشعارو ته يې هغه خوند ورکړی، چې دنورو پښتنو شاعرانو په اشعارو کې ډېر لږ ليدل کېږي.

دا نامتو شاعر او اديب د ځينو سندونو له مخې په ۱۱۲۸ هـ ق کال وفات شوی او د پېښور د هزار خانې په هديره کې ښخ دی. د ده له کلام څخه يوه بېلګه:

کرد ګلو کړه چې سيمه دې ګلزار شي	اغزي مه کره چې پښو کې به دې خار شي
ته چې بل په غشو ولې هسې يوه شه	چې همدا غشی به ستا په لور ګوزار شي
کوهی مه کينه د بل سړي په لار کې	چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
نن چې صبحه ده روښانه لا رصحيح کړه	ناګهانه به دا صبحه شب تار شي
که بل بد کاندي ته ښه ورسره وکړه	هر يو نخل چې مېوه لري سنګسار شي

((رحمان بابا))

نوي لغتونه:

نوميالی-	مشهوراود نوم خاوند	ښخ-	خاورو ته سپارل شوی
اديب-	شاعر او ليکوال	مه کينه-	يعني کيندل مه کوه
کوهی-	څاه	بېلګه-	نمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی د ې متن او شعر ولولي او هغه دې پوره معنا کړي.
۲. متن دې په زده کوونکو د املا په توګه وليکي!
۳. په شعر کې دې هم وزنه کلمې زده کوونکو ته وښيي.
لکه: (خار، لار، تار او نور.)
ښوونکی دې د رحمان بابا په لاندېنيو نومونو باندې پوره رڼا واچوي او زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې وليکي.
(عبدالرحمان بابا - رحمان بابا - عبدالرحمان مومند، صوفي عبدالرحمان او د پېښور (بلبل.)

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او شعر دې معنا کړي.
۲. شعر دې په ساده نثر واړوي.
۳. دا نيمګړې جملې دې د متن په لوستلو بشپړې او بيا دې په کتابچو کې وليکي.

الف. د رحمان بابا لوړ شخصيت له دې څخه معلومېږي چې ټول خلک ....
ب. رحمان بابا د پښتو ژبې يو..................................
ج. ساده او ښکلو الفاظو د رحمان بابا اشعارو ته هغه خوند ورکړی چې د ....
د. له رحمان بابا څخه د اشعارو يو ....
ه. نن چې صبحه ده روښانه لار.......................
د. زده کوونکي دې متن له شعر سره پوره تکرار او بيا دې په ياد زده کړي.

ارزونه:

۱. آيا زده کوونکي د رحمان بابا شعر معنا کولی شي؟
۲. زده کوونکي دا بيتونه په نثر اړولی شي؟
۳. آيا زده کوونکي د رحمان بابا دا شعر له ياده ويلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د رحمان بابا د پېژندنې له پاره متن ولولي او د هغه مطلب دې په ياد زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دري دېرشم لوست

فعل او دهغه ډولونه

موخې:

١. د فعل په معنا او مفهوم باندې پوهېدل او په جملو کې د هغو پېژندل.
٢. د فعلونو په ډولونو باندې پوهېدل.
٣. په ليکنو کې د فعلونو سم کار ول او سمه لوستنه.

هڅوونکې پوښتنې:

١. آيا تاسو کوم وخت د فعل کلمه اورېدلې ده؟
٢. تاسو په خپلو خبرو اترو کې له فعلونو څخه کار اخلئ؟
٣. څه فکر کوئ، چې فعلونه په وينا کې څه ارزښت لري؟

فعل: هغه کلمه ده چې له درې ګونو زمانو څخه په يوه زمانه کې د يوه کار کول او پېښېدل را وښيي.

فعل د وينا ډېره ارزښتمنه برخه ده بې له هغه څخه د جملې معنا نه بشپړېږي.

فعل کله هم په يوازې توګه په خپله د يوې جملې مفهوم افاده کوي.

لکه: ځم، ګورې، اخلو، اغوندو اونور.

فعلونه د زمانې له مخې په درې ډوله دي:

د حال زماني فعل:

هغه کلمه ده، چې د يوه کار کول په حال يا جاري زمانه کې څرګند کړي.

لکه: زه کتاب لولم، دی ډوډۍ خوري، هغه تاګوري، احمد درس وايي، مور خاندو، هغه راغی.

د تېرې زمانې فعلونه:

هغه فعلونه دي چې د يوه کار کول په تېره زمانه کې وښيي.

لکه: تا هلک وواهه، ما ډوډۍ خوړلې ده، هغه درس لوستلی و، احمد پرون تللی و، هلکانو غوزان وخوړل، ما درس لوسته چې دی راغی، مور ډوډۍ پخه کړې وه.

دراتلونکې زمانې فعلونه:

هغه فعلونه دي، چې کار کول په راتلونکې زمانې کې را ښکاره کړي.

لکه: زه به کامياب شم. ته به کورته لاړ شې. احمد به خط وليکي. سږکال به سوکالي وي. که باران ودريده ته به راشې!

نوي لغتونه:

بنسټ – تهداب		ماضي- تېرمهال، تېره زمانه
مستقبل- راتلونکې، آینده		سوکالي- آسوده ګي

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د فعلونو ډولونه دې په مثالونو کې څرګند کړي.
۲. د دغې هرې برخې دې بېله بېله څرګندونه وکړي.
الف. د حال فعلونه:
ب. د ماضي یا تېر مهال فعلونه:
ج. د مستقبل یا راتلونکې زمانې فعلونه:

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د درس په مطلب دې وغږېږي.
۲. په لاندې جملو کې دې فعلونه او دهغو ډولونه وښيي.
الف. د افغانستان پخوانی نوم آریانا و.
ب. افغانان روڼ تاریخ لري.
ج. موږ به په زیار خپله خاوره ودانه کړو.
د. ټول افغانان د احمد شاه بابا په کارنامو ویاړي.
هـ. بې علمه ژوندون ګران دی.

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي د فعلونو په معنا او مفهوم وپوهېدل؟
۲. د فعلونو ډولونه یې هم وپېژندل؟
۳. فعلونه په سمه توګه کارولی شي؟
۴. متن لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د نازوانا په رباعۍ کې فعلونه په نښه او په کتابچو کې دې ولیکي.

سحر ګه وه د نرګس لېمه لانده — ښاخکي ښاخکي یې له سترګو څڅېده
ما وېل: څه دې ښکلې ګله ولې ژاړې — ده وېل: ژوند مې دی یوه خوله خندېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بشر لوی مخترع

موخې:

۱. د بشر له سترو خدمتګارانو څخه د اډيسن پېژندنه.
۲. د اډيسن د خدمتونو په ارزښت باندې پوهېدل.
۳. د متن سم لوستل او سم ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو د بشر د سترو خدمتګارانو له پېژندنې سره مينه لرئ؟
۲. ستاسو په نظر بشر ته لوی خدمت کوونکې د قدر وړ دي؟
۳. آيا تاسو د برېښنا منځ ته راوړل د بشريت له پاره ستر خدمت بولئ؟
۴. تاسې پوهېږئ چې دا لوی خدمت کوونکي به څوک وي؟

په (۱۸۴۷) ميلادي کال په امريکا کې يو ماشوم وزيږيد. دی لاوه کلن نه و چې په ښوونځي کې شامل شو. ده د ښوونځي د درس له زده کړې څخه سربېره د خپلو ځمکو په کرنه کې هم کار کاوه.

څه موده يې ورځپاڼې چلولې. په پنځلس کلنۍ کې يې د چاپ ماشين واخيست. خپله ورځپاڼه يې پرې چاپوله. په شپاړس کلنۍ کې يې کور او کلی پرېښود. نيويارک ته لاړ. د پنځو کلونو په موده کې يې يو سلو دوه ويشت اختراعګانې وکړې. ګرامافون يې جوړ کړ، چې لومړی ځل يې د ويونکي ماشين غږ په نړۍ کې خپور کړ. څه موده وروسته له برقي قوې څخه د رڼا يي په فکر کې شو، چې دا کار ډېر ورته ناشونی ښکارېده، خو دی بې هيلې نشو. خپل کارته يې په کلک عزم ملا وتړله، ترڅو چې په (۱۸۷۹) ميلادي کال کې د اکتوبر په ۲۱ ورځ اډيسن په دې بريالی شو، چې د برېښنا بهير په ګروپ کې د رڼايي په توګه راولي.

دغه ستر خدمت کوونکي په (۱۹۳۱) ميلادي کال کې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

بريالی-	کامیاب	بې هیلي-	نا امید
بهیر-	جریان	روښنايي-	رڼایي
ناشونی-	نه کېدونکی		

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د اډیسن د لوی خدمت په ارزښت دې خبرې وکړي.
۲. متن دې د املا په توګه ووايي او زده کوونکي دې په کتابچو کې ولیکي.
۳. لاندې بیتونه دې په تخته ولیکي معنا دې کړي او په هغه کې دې نومونه په نښه کړي.
دمثال په ډول: بصیرت او علم (د معنا نومونه دي)

بصیرت او علم نشته په کتاب کې — که څه نه وي د مغزو په پېچ وتاب کې
پوهه تولـه راوتـلي لـه مغزو ده — هسې نـه چې پـه دا ډېرو کـتابـو ده
(الفت)

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د اډیسن په هکله دې خبرې وکړي.
۲. په لاندې جملو کې دې سمې جملې په (ص) سره په نښه کړي.
الف. اډیسن د امریکا خلکو ته خدمت وکړ.
ب. اډیسن یوازې ګرامافون اختراع کړ.
ج. اډیسن له برقي انرژۍ څخه روښنايي منځ ته راوړه.
د. د اډیسن کار او تجربو نتیجه ورنه کړه.
هـ. د ۱۸۷۹ میلادي کال د اکتوبر ۲۱ ورځ د ټولې دنیا له پاره یوه مهمه ورځ وه.
دغه ستر خدمت کوونکې په ۱۹۳۱ میلادي کال کې له دې فانۍ نړۍ سترګې پټې کړې.

ارزونه:

۱. زده کوونکي په دې و پوهېدل چې اډیسن د برق په اختراع کولو سره بشر ته لوی خدمت وکړ؟
۲. په دې پوه شول چې د اډیسن نوم د سترو خدمتونو په کولو سره تل ژوندی پاتې دی؟
۳. متن لوستلی او لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د اډیسن په هکله د خپلې کورنۍ غړو په تېره خویندو او وروڼو ته کیسې وکړي او دلوست مطلب دې په لنډه توګه په خپلو کتابچو کې ولیکي اوپه یاد دې زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه د یرشم لوست

بیټ نیکه

موخې:

۱. د یوه مشهور نیکه او پیاوړي شاعر په توګه د بیټ نیکه پېژندنه.

۲. د متن سم لوستل او سم لیکل دي.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آیا تاسو له پخوانیو شاعرانو او نیکونو څخه د چا نوم اورېدلی دی؟

۲. پښتو ژبې په پخوا زمانو کې هم مشهور او پیاوړي شاعران درلودل؟

۳. تاسو د بیټ نیکه نوم اورېدلی، د هغه د مناجاتو اوشاعرۍ په هکله څه پوهېږئ؟

بیټ نیکه بیټنی، او بټن د پښتنو له مشهورو نیکونو او لرغونو شاعرانو څخه و. چې د (۳۰۰ او ۴۰۰ هـ) کلونو شاوخوایې سلیمان غره په لمنو کې ژوند کاوه. تر ټولو پخوانی کتاب چې د دې نیکه نوم او اشعار په کې راغلي دي. دسلیمان ماکو د تذکرةُ الاولیا کتاب دی، چې په ۶۱۲ هـ. ق کال کې لیکل شوی دی.

د بیټ نیکه له اشعارو څخه ښکاره ده، چې ده په خپلو اشعارو کې د نورو ژبو کلمې نه دي راوړي. یوازې د پښتو سوچه کلمې یې غوره کړې دي او د کلمو کار ول یې په داسې توګه شوي، چې اشعار یې ډېر سپېڅلي، ساده او روان دي.

د بیټ نیکه مناجات

لویه خدایه لویه خدایه ! ستا په مینه په هر ځایه

غرولاړ دي درناوي کې تولـه ژوي پـه زاري کـې

دلته دي دغرو لمنې زموږ کیږدی دي په کې پلنې

دا وګړي ډېر کړې خدایه!

لویه خدایه لویه خدایه!

هسک اوځمکه نغښته ستاده د مړو وده له تاده

دا پالنه ستا ده خدایه! لویه خدایه لویه خدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

درناوی- درنښت	ژوي- ښاروي حیوانات	وده- لویېدنه
سوچه- سپېڅلي	نغښتي- تاوکړی، پېچلی	وګړي- خلک

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او دهغه په هکله دې خبرې وکړي.
۲. متن او شعر دې په زده کوونکو باندې د املا په توګه ولیکي.
۳. په متن کې راغلي صفتونه دې په نښه او زده کوونکي دې په کتابچو کې ولیکي.
لکه: (لویه، مشهور، سوچه، پخوانی، تاریخي، سپین، ساده، روان) اونور...

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او شعر دې په یاد زده کړي.
۲. دا لاندې جملې دې د درس په پوهېدو سره بشپړې او په کتابچو کې ولیکي.

الف. بېټ نیکه له مشهورو نیکونو څخه و چې په .... او .... هـ. ق کلونو دسلیمان د غرونو په لمنو کې اوسیده!

ب. تر ټولو پخوانی کتاب چې د بېټ نیکه نوم او اشعاریې راوړي د .... کتاب دی.
چې ....لیکلی دی.

زده کوونکي دې په دې لاندې جملو کې صفتونه په نښه او په خپلو کتابچو کې ولیکي!

د بېټ نیکه د مناجاتو له مخې معلومېږي، چې د ده اشعار ډېر سپېڅلي، ساده او روان دي. د نورو ژبو کلمې یې هم په کې نه دي را وړي. سوچه د پښتو ژبې کلمې یې کارولې دي.

ارزونه:

۱. زده کوونکي متن لوستلی او د املا په توګه یې لیکلی شي؟
۲. زده کوونکو بېټ نیکه وپېژانده او له شاعرۍ سره یې آشنا شول؟
۳. زده کوونکي د بېټ نیکه مناجات له یاده ویلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې دا کلمې لومړی معنا او بیا دې په جملو کې وکاروي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

لکه: درناوی، ژوی، بورجل، مېشته، وده

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ د یرشم لوست

د فعل ریښه

موخې:

۱. د فعلونو د ریښو پېژندل.
۲. په فعلونو کې د ریښو ارزښت.
۳. په لیکلو او لوستلو کې د فعلونو سم کارول.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. تاسو څه فکر کوئ فعلونه هم ریښې لري؟
۲. ستاسو په نظر ریښې د فعلونو په جوړښت کې مهمې دي؟

د فعلونو ریښې:

ریښه د فعل اصل او بنسټ دی او د فعل هغې برخې ته ویل کېږي، چې تاړي یا وندونه ور پورې ونښلي او نورې کلمې ترې جوړې کړي.

لکه: د (خوړ) کلمه د یوې ریښې په شکل په نورو مثالونو کې وګورئ:

خوړلی، وخوړ، خوړلی و، خوړلې ده، خوړونکې، خوړل شوی، وبه خوړلی شي خوړلی به وي.

لکه: څنګه چې ریښه د فعل اصل او بنسټ جوړوي. په نومونو کې هم ریښه اصل دی او له تاړو سره نوې کلمې جوړولی شي.

د مثال په توګه د کار کلمه په نورو مثالونو کې وګورئ: کاریګر، ناکاره، بېکار، بېکاره، کارکوونکې، هم کار، او نور....

همدارنګه د زړه کلمه هم په نورو مثالونو کې لیدلی شئ: زړور، بې زړه، نازړه، زړن، زړه سوی، له زړه اونور...

نوي لغتونه:

بنسټ-	تهداب	زړن-	زړور
نازړه-	ډارن- بې هوډه	تاړي -	وندونه
مختاري-	پېشوندونه	روستاړي –	پسوندونه

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او په مطلب دې خبرې وکړي.

۲. ښوونکی دې متن د املاء په توګه په زده کوونکو باندې ولیکي.

۳. ښوونکی دې په دا لاندې کلمو کې رېښه وښیې او په زده کوونکو دې ولیکي.

الف. (لید): لیدنه، لیدونکی ، لیدل، ولید ، لیدلی، ولیدل.

ب. (کوت): وکوت، کتلی، کتل شوی، کاته ، کتل.........

ج. (فکر): بې فکره، بافکره، هم فکره، بې فکري........

د. (لاس): لاسي، بې لاسه، برلاسه، په لاس ....

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او په مطلب دې خبرې وکړي.

۲. زده کوونکي دې رېښه تعریف، په مثالونو کې څرګنده او په کتابچو کې ولیکي.

۳. زده کوونکي دې په لاندېنیو کلمو کې رېښه په نښه کړي.

الف. (پوه): پوهنه، پوهول، پوهنتون، پوهان، پوهنوال، پوهیالی، ناپوه.

ب. (مخ): مخونه، مخکې، مختاړي، مخور، بې مخي، بې مخه.

ج. (سر): سرور، بې سره، له سره، سردار، سره.

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي د رېښو په معنا او مطلب باندې و پوهېدل؟

۲. زده کوونکي کولی شي چې په کلمو کې رېښه وپېژني؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د متن لنډیز په کتابچو کې ولیکي او هغه دې له مثالونو سره په یاد زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه د یرشم لوست

کوچنیان

موخې:

١. په کینې او رخې باندې د زده کوونکو پوهېدل.
٢. زده کوونکي وپوهېږي چې دښمني او کینه ښه کار نه دی.
٣. دمتن لوستل او لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:

١. آیا تاسو د کینې او حسد په مفهوم باندې پوهېږئ؟
٢. کوم وخت داسې پېښې شوي چې له چاسره مو کینه او رخه پیدا شوې وي؟
٣. ستاسو په فکر کینه او رخه څه ډول عمل دی؟

ارواښاد ګل پاچا (الفت) په خپل مشهور کتاب ((غوره نثرونه)) کې لیکلي دي:

((..... زه په ماشومانو کې ځینې داسې لوی خویونه او ستر صفتونه وینم، چې هغه په لویانو کې نشته. هغه کسان چې لویې لري، ځانونه ورته لوی او زورور ښکاري. دخپلې کینې او بغض په وړاندې ډېر کمزوري دي. زه او ته که هر څومره لوی شو، قوت ومومو، په خپلو غلیمانو رحم نه شو کولی. په زوررو باندې قهر او غضب ډېر زورور دي. مګر ماشومان دغه راز نه دي. د دوی په زړونو کې که عناد او کینه پیدا شي، ډېر ژر یې له منځه وړی شي. یوه شېبه وروسته له هغه چا سره مینه کوي، چې مخکې یې ورسره منګولې لګولې.

دا کار لویان نه شي کولی. لوی خلک د خپل قهر او غضب په وړاندې ډېر واړه او کمزوري دي.

دا زور او قوت د کوچنیانو په برخه رسیدلی دی، چې د کینې او عناد اور مړ کړي او دا جهنم په ګلزار بدل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

ارواښاد-	مړ، ښښل شوی	عناد-	کینه
غوره-	په زړه پوري	ګلزار-	دګلو سېمې
حسد-	رخه	بُغض-	کینه

ښوونکي ته لارښووني:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. د کینې، رخې او د ښمنۍ په کلمو دې پوره څرګندونې وکړي.
۳. متن دې د املاء په توګه په زده کوونکو ولیکي.
۴. زده کوونکي دې په څلورو ډلو وویشي او دوی ته دې دا سې سپارښتنې وکړي:
لومړۍ ډله: دمتن یوه یوه جمله دې ولولي او په تخته دې ولیکي.
دوهمه ډله: په متن کې دې نومونه په نښه کړي، لکه: ګل پاچا اُلفت (خاص نوم)
دریمه ډله: په متن کې دې راغلي (صفتونه) وښيي! لکه: ستر (اصلي صفت)
څلورمه ډله: په متن کې دې مترادفې او متضادې کلمې څرګندې کړي.
مترادفې کلمې لکه: رخه او حسد _ عناد او کینه
متضادې کلمې، لکه: لویان او واړه _ زورور او کمزوری

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او هغه دې په لنډ ډول ووايي.
۲. زده کوونکي دې لاندې کلمې په مناسبو جملو کې راوړي.

الف. لویان	د. عناد	ز. قوت
ب. بغض	هـ. کمزوری	ح. ګلزار
ج. زورور	و. مینه	

ارزونه:

۱. زده کوونکي د کینې اورخې په معنا او مطلب و پوهېدل؟
۲. آیا زده کوونکي د کینې او دښمنۍ په هکله یوه مقاله لیکلی شي؟
۳. زده کوونکي متن لوستلی او خبرې پرې کولی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې یوه لنډه مقاله د کینې او رخې په هکله په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا دې سباته خپلو ټولګیوالو ته ولولي.

اته دیرشم لوست

دغوږونو ساتنه

موخې:

١. دغوږونو په ارزښت او ګټو باندې پوهېدل.
٢. زده کوونکي پوهېږي چې دغوږونو پاک ساتل دروغتیا له پاره ډېره ضروري او حتمي خبره ده.
٣. دمتن لوستل او لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:

١. ستاسو په فکر دغوږونو سلامتي او روغتیا په ژوند کې څه اغېزه لري؟
٢. موږ د خپلو غوږونو دسلامتیا او ساتنې له پاره باید څه وکړو؟

غوږونه زموږ د بدن اساسي برخه ده، چې دهغو له لارې ډول ډول آوازونه اورو، غوږ درې برخې لري:

١. د غوږ باندینۍ برخه: هغه برخه ده، چې موږ يې له بهر څخه ګورو او د غوږ څپې لومړی له دغې برخې سره لګيږي. بیا دغوږ د ننه نلۍ ته چې (د اوریدو دنلۍ په نامه یادیږي) داخلیږي. د دې نلۍ د پاسه واړه ویښتان دي، چې مکروبونه، دوړې او خځلې د غوږ دننه داخلېدو ته نه پرېږدي. د اورېدو په نلۍ کې الله (جل جلاله) یو خاص ډول غُدې پیدا کړې دي، چې سرېښناکه ماده لري. دا غُدې د غوږ په پورتنۍ برخه کې هم لږ غوندې سرېښناکه ماده لري، چې غوږ له زخمي کیدو څخه ساتي.
د اورېدو د نلۍ په دننه برخه کې يوه نازکه پرده ده، چې د غوږ پرده ورته ويل کېږي. کله چې دغږ څپې له دغې پردې سره ولګيږي، نو په کې اهتزاز (رپا) پیدا کېږي. دغه پرده له ډېر تېز اودرانده آوازاو چاودنې څخه شلېدای هم شي.

٢. د غوږ منځنۍ برخه: دا برخه د یوې نلۍ په واسطه له ستوني سره یو ځای شوې ده. د والګي (ریزش) په وخت کې چې د پزې او ستوني د ننه خیرې یا نور شیان را ټول شي، نو د غوږ په دغه نلۍ کې سوی او درد پیدا کېږي، او غوږ په لنډ مهاله توګه بندېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. د غوږ دننه برخه: دا برخه بیضوي ډوله شکل لري. په هغو کې یو غړی دی، چې انډول ساتي. د دغه غړي د ننه درې نلونه دي چې د یوه خاص ډول مایع څخه ډک دي.

کله چې د غږ څپې زموږ له غوږونو سره ولګېږي، نو دغوږ په پرده کې رپا پیدا شي. دا رپا د غوږ له منځنیو برخو څخه تېرېږي او مغزوته رسېږي او په دې ډول موږ غږ اورو.

ښوونکي ته لارښووني:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د غوږونو په ارزښت دې خبرې وکړي.
۲. د غوږونو ارزښتمنې دندې او په سلامتیـ کې دې د هغو رول وښيي.
۳. زده کوونکو ته دې په ډله ییزه توګه لارښوونه وکړي چې د پوښتنې ځواب ووایي او بیا دې له هرې ډلې څخه یو تن خپله لیکل شوې پاڼه ولولي.
۴. د غوږونو د پاک ساتلو په هکله دې زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او په لنډ ډول دې پرې خبرې وکړي.
۲. لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ او د پاراګراف په شکل یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

الف. موږ غږ د څه شي په واسطه اورو؟
ب. غوږ څو برخې لري؟
ج. موږ غږ څنګه اوریدلی شو؟

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي دغوږونو په ارزښت او ساتنې و پوهېدل؟
۲. زده کوونکي پوه شول چې دغوږونو ارزښتمنه دنده څه شی ده؟
۳. زده کوونکي متن لیکلی او لوستلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې دغو ږونودساتلو او ارزښت په هکله یوه لنډه مقاله په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه د یرشم لوست

ملي يووالی

موخې:

١. زده کوونکي دې د يووالي په معنا او مفهوم باندې وپوهېږي.
٢. د يو والي په ارزښت باندې پوهېدل.
٣. د متن لوستل او ليکل.

هڅوونکې پوښتنې:

١. آيا تاسو د يووالي د کلمې په معنا او مفهوم پوهېږئ؟
٢. تاسې پوهېږئ چې يووالى هېواد ته څه ګټې لري؟
٣. د تاسو په فکر موږ بايد د يووالي له پاره څه وکړو؟

يووالى

لکه باغ يو مملکت وګڼه ورور

په کې هر قسم ګلونه بوټي ګوره!

ونې ډېرې خو باغ يو دی که پوهېږې

که کوې بل رنګه فکر ډېر غولېږې

د وه سکه ورونه لري بېل بېل نومونه

بېل رنګونه بېل غږونه بېل خويونه

مګر دواړه او سېدونکي د يو کور دي

د يوې سترګې په کور کې سپين او تور دي

(اُلفت)

نوي لغتونه:

بېل- جلا

وګڼه- وشمېره، ومنه، قبول کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې شعر ولولي او معنا دې کړي.

۲. د شعر په مطلب دې خبرې وکړي.

۳. د يووالي په ارزښت دې وغږېږي.

۴. شعر دې د املاء په توګه په زده کوونکو وليکي.

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د هغه په مطلب دې خبرې وکړي.

۲. لوستل شوی شعر دې په نثر واړوي او په کتابچو کې دې وليکي.

۳. لاندېنۍ کلمې دې په جملو کې وکاروي او په خپلو کتابچو کې دې وليکي:

الف. وګړه
ب. سکه
ج. بېل
د. اوسيدونکي
هـ. ورونه

ارزونه:

۱. آيا زده کوونکي ديووالي په معنا او مفهوم وپوهېدل؟
۲. زده کوونکي ديووالي په ارزښت وپوهېدل؟
۳. زده کوونکي متن لوستلی او ليکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د يووالي په هکله يوه مقاله وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلوېښتم لوست

دتېرمهال فعلونه

موخې:

١. د تېر مهال د فعلونو پېژندل.
٢. دتېرمهال دفعلونو د ډولونو پېژندل.
٣. په لوستلو او ليکلو کې د تېر مهال د فعلونو سم کارول.

هڅوونکې پوښتنې:

١. آيا تاسو په فعلونو کې د تېرمهال فعلونه پېژنئ؟
٢. دتېرمهال فعلونه له نورو فعلونو سره څه توپير لري؟
٣. د تېرمهال د فعلونو د ډولونو په هکله څه ويلی شئ؟

د تېرمهال يا ماضي فعلونه

هغه فعلونه چې په تېره زما نه کې دکار پېښېدل وښيي، لکه: ما ډوډۍ خوړلې وه، تا خط ليکلی و.

د تېرمهال فعلونه دا لاندې ډولونه لري:

مطلقه ماضي: چې يو کار مطلقاً په تېره زمانه کې راوښيي. لکه: تاولید. ما ناک وخوړ. هلک يې پرون وواهه. خط يې وليکه. دوی ولمبل. امتحان يې واخيست.

استمراري تېره زمانه:

چې د فعل دوام يا بهير اوس مهال پورې وښيي، لکه: تاليده، هلک يې واهه، خط يې ليکه، دوی لمبل، امتحان يې اخيسته، او نور.

نږدې تېره زمانه:

هغه چې اوس مهال ته نږدې وي لکه: ماليدلی دی، پيشوېي وهلې ده، خط يې ليکلی دی، دوی لمبلي دي، امتحان يې اخيستی دی، منه يې خوړلې ده.

لرې ماضي:

چې له اوس مهال څخه لرې وي، لکه: ماليدلی و. هلک يې وهلی و. مقاله يې ليکلې وه. دوی لمبلي وو. آزموينه يې اخيستلې وه. منه يې خوړلې وه.

احتمالي يا شکي ماضي:

چې يو کار په تېره زمانه کې له شک او ترديد سره وښيي. لکه: تا به ليدلی وي. هلک به يې وهلی وي. ډوډۍ به يې خوړلې وي. مورې به ويلي وي.

نوي لغتونه:

تېرمهال-	تېروخت	احتمالي-	له شک او ترديد سره
لامبل-	ځان مينځل		

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د تېر مهال د فعلونو د ډولونو په هکله دې څرګندونې وکړي.
۲. متن دې د املاء په توګه په زده کوونکو باندې وليکي.
۳. په ګروپيزه توګه دې په زده کوونکو باندې متن ولولي، ترڅو دوی په پای کې يو بل ته څرګندونې وکړي.
۴. د تېرو زمانو توپير دې په مثالونو کې وښيي، بيا دې زده کوونکي هغه په کتابچو کې وليکي.

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او بيا دې په لنډه توګه د هغه مطلب ووايي.
۲. زده کوونکي دې په لاندې جملو کې د ماضي فعلونو ډولونه وښيي او په کتابچو کې دې وليکي.

الف. ملاريا يوه وژونکې ناروغي ده.
ب. که لمر نه وای د ځمکې پر مخ به ژوند نا ممکن و.
ج. بدني روزنه د انسان د روغتيا له پاره ډېر ارزښت لري.
د. ما فکر کاوه چې تا به د حبيب الله تربې ډېر کتابونه لوستلي وي.
هـ. زه به د پاڅون صاحب کتابونه تاته راوړم.

ارزونه:

۱. آيا زده کوونکو د تېرمهال فعلونه وپېژندل؟
۲. د تېرمهال فعلونه کارولی شي؟
۳. دتېرې زمانې فعلونه له يو بل څخه توپيرولی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن په لنډه توګه په کتابچو کې وليکي او هغه دې په ياد زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو څلویښتم لوست

د نشه یي توکو اغېزې

موخې:

١. زده کوونکي د نشه یي موادو په اغیزو او زیانونو وپوهېږي.
٢. متن سم ولولي او سم يې وليکي.

هڅوونکې پوښتنې:

١. آیا تاسو نشه یي توکي پېژنئ؟
٢. د نشه یي توکو په زيانونو پوهېږئ؟
٣. ستاسو په نظر نشه کوونکي خلک سم او مناسب کارونه کوي؟

د تاریخ په اوږدو کې پوهانو د نشه یي توکي په اغېزو ژورې څېړنې ترسره کړې چې په زړه پورې پایلې يې لاس ته راوړې دي. زموږ په چاپېریال کې داسې توکي شته چې ځانته غذايي خواص لري او په بدن کې شحمي، پروتيني، قندي مواد او ډول ډول ویټامینونه منځ ته راوړي، لکه: مېوې، سابه ، غوښې، او نور چې د ژوند د پاینت روغتيايي او سوکالۍ سبب کېدلی شي.

زموږ په چاپېریال کې داسې توکي هم موجود دي، چې نه يوازې غذايي او روغیتايي خاصیت او ځانګړنې نه لري، بلکې ډېر تخریبوونکي او وژونکي هم دي. لکه: چرس، بنګ، شراب، تریاک، هېروين، او نور.

هغه انسان چې یو وخت روغ رمټ، د فکري قوت خاوند ، د غښتلې ارادې او ښو کړو وړو له امله په خپله ټولنه کې د درناوي او باور وړ وي. د دغو نشه یي توکو په کارولو سره دا توان نه لري، چې له ځايه وخوځېږي. دا خو لاڅه چې دخپل ځان او یا کورنۍ له پاره زیار وباسي او اړتیاوې يې پوره کړي.

دا اخته کسان خیرن، بوی ناک په هر ځای کې پراته، د خپلو کورنيو له خوا شړل شوي او په کرکه ورته کتل کېږي. دوی يوازې د هغو توکو په فکر کې وي، چې اوس يې بې له هغو څخه آرام ژوند نشته. په هره وسیله چې کولی شي حتی د غلا، او وژنې له لارې هغه نشه يي مواد لاس ته راوړي. دا په نشه روږدي کسان ورو ورو خپله روغتیا او سلامتي له لاسه ورکوي او په ډول ډول ناروغيو اخته کېږي.

په لومړیو وختونو کې بې خوبي، سرخوږي، نا آرامي، درنګ ژېړ والي، یا تورروالی، د زړه او د سږو سرطان، د پوستکي ډول ډول ناروغۍ او په پای کې په لیونتوب اخته او د مړيني سبب يې ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

چاپېریال- محیط	اخته- بوخت	بقا- پاینبت	
کړه وړه- چارې او عملونه	روږدي- اموخته او عادت	سوکالي- آسوده ګي	
غښتلی- قوي	هوسایي- آرامي		

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د نشه يي توکو په هکله دې پوره معلومات ورکړي.
۲. د نشه يي توکو زيانونه دې زده کوونکي ته بيان کړي.
۳. د نشه يي توکو په هکله دې د اسلام د مقدس دين په رڼا کې وغږېږي، چې زموږ پاک او سپېڅلي اسلام دا توکي منع کړي، ځکه چې د انسان له پاره تباه کوونکي شيان دي.
۴. ښوونکی دې دا متن د املاء په توګه په زده کوونکو باندې په خپلو کتابچو کې وليکي.

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د هغه مطلب دې په ساده وينا بيان کړي.
۲. هغه مواد چې غذايي او روغتيايي خاصيت لري وپېژني، لکه: مېوې، سابه، غوښې او داسې نور شيان.
۳. هغه مواد دې وپېژني، چې نه يوازې غذايي او روغتيايي خاصيت نه لري، بلکې تخريبوونکي او تباه کوونکي دي. لکه: چرس، ترياک، هيروين، شراب او نور.
۴. د نشه يي توکو د کارولو زيانونه دې په خپلو کتابچو کې وليکي او هغه دې په ياد کړي.
۵. په دې وپوهېږي چې په نشو روږدي کسان په کومو ناروغيو اخته کېږي، چې په پای کې يې د مړينې سبب ګرځي.

ارزونه:

۱. آيا زده کوونکو نشه يي مواد او د هغو نمونه وپېژندل؟
۲. زده کوونکي په ټولنه کې د نشه يانو په کړو وړو هم و پوهېدل؟
۳. آيا زده کوونکي د نشه يي موادو د کارولو د زيانونو په هکله څه شی ليکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د نشې په باب د خپلو کورنيو له غړو سره خبرې وکړي او بيا دې يوه لنډه مقاله په دې هکله په خپلو کتابچو کې وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه څلویښتم لوست

په ځمکه کې بدلونونه

موخې:

۱. زده کوونکي دې وپوهېږي چې دځمکې پرمخ او منځ کې لوی او واړه بدلونونه هم منځ ته راځي.
۲. زده کوونکي دې په دې پوه شي چې لوی کمرونه ولې ټوټې ټوټې کېږي؟
۳. د متن لوستل او لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آیا تاسې دځمکې د بدلون په هکله څه فکر کولی شئ؟
۲. تاسې په دې برخه کې څه اورېدلي چې دځمکې پرمخ او منځ کې څه بدلون راغلی وي؟

که مو ړ وغواړو چې یوه لویه ډبره ماته کړو. نو هغه به په مارتول ماتوو او که بې له مارتول څخه بله لاره هم شته؟ راځئ چې فکر وکړو او پیدا یې کړو چې دا لوی کمرونه څنګه ټوټې ټوټې کېږي؟

تاسې به لیدلي وي، چې د ژمي په موسم کې که له اوبو څخه ډک منګی بهر پاتې شي د یخنۍ له امله ماتېږي. کله چې اوبه یخې شي حجم یې زیاتېږي، په لوښي کې نه ځایېږي، نو ځکه منګی ماتوي. د لویو لویو کمرونو، ماتېدل هم کټ مټ همدغسې دي.

کله چې باران ورېږي. د باران اوبه د تیږو او ډبرو په درزونو او سوریو کې ننه وزي. د سړو په وخت کې دا اوبه کنګل کېږي. د ډبرو د ماتېدو لامل ګرځي، په دې ترتیب لوی کمرونه ټوټې ټوټې کېږي.

ځینې نورې عملیې هم د کمرونو او ډبرو د ماتېدو سبب ګرځي. ژوندي شیان، لکه دنباتاتو ریښې همدارنګه اوبه او بادونه د غټو او وړو ډبرو د ماتېدو سبب کیدای شي، چې په پای کې له دې ماتو شوو وړو ټوټو څخه ډېره حاصل خیزه خاوره منځ ته راځي، له همدې امله د سیندونو او رودونو ترڅنګه ځمکې ډېرې ګټورې وي. په ځمکه کې دا ډول بدلونونه په ډېره اوږده موده کې را منځ ته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

ډبره- تېره	کنګل - یخ
لوښی- ظرف	بهر- د باندې
مارتول- هغه آله ده چې تیږې پرې ماتوي	کمرونه- پاڼونه

ښوونکي ته لارښووني:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د هغه په هکله دې پوره معلومات وړاندې کړي.
۲. له هغو بدلونونو څخه دې هم یادونه وکړي چې د سیلابونو، زلزلو، طوفانونو او نورو پېښو په وسیله منځ ته را غلي وي.
۳. متن دې د املاء په توګه په زده کوونکو باندې ولیکي.
۴. د دغه متن په هم معنا یا مترادفو کلمو باندې دې خبرې وکړي.
لکه: دریابونه، سیندونه، رودونه.
ـ یخ، کنګل.
ـ کمرونه، پاڼونه.
ـ ژوندي، ژوي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د هغه په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. یو یو تن دې لاندېنیو پوښتنو ته ځوابونه ووایي او بیا دې هغه ولیکي.
الف. اوبه چې په منګي کې کنګل شي، بیا څه پېښېږي؟
ب. لوی کمرونه څنګه ټوټه ټوټه کېږي؟
ج. که د ډبرو او لویو تیږو په درزونو کې اوبه لاړې شي، بیا څه کېږي؟
د. د ځمکې په مخ او منځ کې بدلونونه په څومره موده کې منځ ته راځي؟

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي و پوهېدل، چې د ځمکې پرمخ او منځ کې ځینې بدلونونه پېښېږي؟
۲. په دې پوه شول، چې لوی لوی کمرونه څنګه ماتېږي؟
۳. متن لوستلی او مطلب یې په خپلو کتابچو کې لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي، په مطلب دې ځان پوه کړي. بیا دې هغه په یاد زده کړي اوهم دې د متن لنډیز په خپلو کتابچو کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې څلوېښتم لوست

فعل د بڼې او شکل له مخې

موخې:

۱. زده کوونکي فعلونه د بڼې او شکل له مخې وپېژني.
۲. دبڼې له مخې دفعلونو ډولونو پېژندل، په لوستلو اوليکلو کې يې سم کارول.

هڅوونکې پوښتنې:

۱. آيا تاسو فعلونه دبڼې له مخې پېژنئ؟
۲. ستاسو په نظر فعلونه دبڼې او زماني له مخې سره توپير لري؟

فعل د بڼې اوشکل له مخې:

فعل د کار ولو او ويلو له مخې دا لاندې ډولونه لري:

۱. **د فعل اخباري بڼه:** هغه فعلونه دي چې دکار کول يا کېدل په کې د خبر په ډول وښودل شي، لکه: احمد په آزموينه کې بريالی شو. د آريايانو لومړی ښار بُخدي نومېده. بريالي خط وليکه.

۲. **د فعل امري بڼه:** هغه فعلونه چې کار په کې دامر او فرمان په توګه وښودل شي. لکه: دلته راشه! او زما خبره واوره. زما کتاب راوړه! هلکه! ورته ووايه چې اوس مه راځه!

۳. **د فعل احتمالي ياشکي بڼه:** هغه فعلونه چې کار دشک په ډول وښيي، لکه: تابه ډوډی خوړلې وي؟ ته به هغه ته وواېي چې راشي؟ ته به زما يو ښه ملګری شې؟ ګوندې سباته باران وورېږي.

۴. **د فعل شرطي بڼه:** هغه فعلونه دي، چې کار له يوه شرط سره وښودل شي. لکه: که درس ووايي، کامياب به شي. که وختي له خوبه پاڅېږې، هر کار به دې ترسره شي. که ته راغلې، هغه خامخا وينې.

۵. **د فعل تمنايي بڼه:** هغه فعلونه دي، چې کار په کې د هيلې او غوښتنې په بڼه وښودل شي، لکه: کاشکې ما استاد ليدلی وی. هيله کوم په ټلېفون کې راسره خبرې وکړې. کاشکې موږ ټول بريالي شو.

نوي لغتونه:

بڼه-	شکل		
هيله-	اميد، غوښتنه	تمنايي-	له هيلې سره
احتمالي-	له شک سره	بُخدي-	د آريايانو په وخت کې د اوسني بلخ لرغونی نوم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او د هغه په هکله دې ځرګندونې وکړي.
۲. د فعل ډولونه دې د بنې له مخې په مثالونو کې ځرګند کړي.
۳. د دغو برخو په هکله دې معلومات وړاندې او زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

الف. د فعل اخباري بنې هغه دې، چې................................

ب. د فعل احتمالي بنې هغه دې، چې.......................

ج. د فعل امري بنې هغه فعل ته وايي: ....

د. د فعل تمنايي بنې هغو فعلونو ته ....

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د فعلونو بنې دې په مثالونو کې ځرګندې کړي.
۲. زده کوونکي دې دا لاندې جملې د فعلونو په برخه کې وګوري او فعلونه دې د بنې له مخې وښيي.

الف. ځوانان دې له نشه يي توکو څخه ځان وساتي!

ب. دسګرټو څکول روغتيا ته زيان لري.

ج. که ته پرون راغلی وی، نو دواړو به يو ځای درس ويلی و.

د: کاشکې زما ورور هم دلته وی.

هـ. تا به د احمد شاه بابا له کارنامو څخه يو څه اورېدلي وي؟

د فعل شکي يا احتمالي بڼه ـ امري بڼه ـ خبري بڼه ـ شرطي بڼه ـ اود فعلونو تمنايي بڼه

ارزونه:

۱. آيا زده کوونکي و پوهېدل چې فعلونه د بنې له مخې کوم دي او څو ډولونه لري؟
۲. آيا زده کوونکي په ليکلو او لوستلو کې فعلونه د بنې له مخې سم کارولی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې متن ولولي او هغه دې په خپلو کتابچو کې وليکي او بيا دې هغه په ياد زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور څلویښتم لوست

کار وکړئ سوال مه کوئ!

موخې:

١. د کار کولو په ارزښت د زده کوونکو پوهېدل.
٢. زده کوونکي د کار او بېکارۍ په پایلو باندې وپوهېږي.
٣. زده کوونکي دې وپوهېږي، چې کار کول تر سوال کولو غوره دي.

هڅوونکې پوښتنې:

١. آیا تاسې له کارکولو سره مینه لرئ؟ کوم ډول کارونه مو خوښېږي؟
٢. تاسو څه فکر کوئ چې کار کول او زیار ښه دي که په سوال سره د یوڅه پیدا کول؟
٣. کار کول سربېره له ګټې څخه زموږ روغتیا ته هم کومه ګټه لري؟

یوه ورځ محمود له خپل پلار سره روان و. یوه هلک سوال ترې وکړ. د محمود پلار ترې تېر شو، خو محموددوه روپۍ ورکړې. لږ چې مخکې ولاړل. پلار یې ورته وویل: بچیه! خیرات ورکول ډېر ښه کار دی، خو ړندو، ګوډانو، ناروغو او بېوزلو خلکو ته زیات ثواب لري.

زه هره ورځ دغه هلک وینم، چې سوال کوي. په سوال کولو روزي پیدا کول ښه کار نه دی. حضرت رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) داسې لار ښوونه کړې ده: ((خپله روزي د کار اوزیار په وسیله وګټئ، سوال مه کوئ.))

له حضرت انس (رضی الله تعالی عنه) څخه روایت دی، چې یو انصاري حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) حضور ته راغی. ویې ویل: ((ای د الله حبیبه! ماته یو څه راکړه.)) رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: چې ((په کور کې څه لرې؟)) سوالګر وویل: یوه شړۍ لرم او یوه د لرګي کاسه، چې اوبه په کې څښو. حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل: ((دواړه راوړه!)) هغه دواړه راوړل. حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: ((دا دواړه څوک اخلي؟)) یوه سړي وویل زه یې په یوه روپۍ اخلم. د خدای (جل جلاله) پېغمبر صلی الله علیه وسلم) بیا وفرمایل: ((څوک یې له دې څخه ګران اخلي؟)) بل سړي وویل زه یې په دوه روپۍ اخلم.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هغه شیان ورکړل او روپۍ یې انصاري ته ورکړې. ویې ویل: ((چې په یوې روپۍ خوراکي شیان واخله او په بله روپۍ یو تبر واخله او ماته یې راوړه!))

انصاري تبر راوړ او حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په مبارکو لاسونو په خپله هغه ته لاستی ور واچاوه. بیا یې وفرمایل: چې ځه لرګي وهه او خرخوه یې. پنځه لس ورځې دې ونه ګورم.

انصاري دا کار کاوه. او له پنځه لسو ورځو وروسته حضور ته راغی، چې حال یې ډېر ښه شوی و. حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: ((دا کار کول تاته له سوال کولو نه غوره دي، ځکه چې سوال کول به د قیامت په ورځ ستا پرمخ تور ټکی وي.)) (ذغه حدیث)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

سپما- ذخيره　　غوره- بهتر او منل شوی　　تورتکی- عيب او شرمندګي

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او په هغه دې خبرې وکړي.
۲. ښوونکی دې په دې هکله خبرې وکړي، چې کار کول زموږ د بدن غړي ښه په حرکت راولي او زموږ سلامتی ته ډېره ګټه رسوي.
۳. ښوونکی دې متن په زده کوونکو باندې د املاء په توګه وليکي.
۴. ښوونکی دې د کېسې مطلب په لنډه توګه بيان او د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) لارښوونو ته دې د زده کوونکو پام را واړوي.

د زده کوونکو فعاليتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او د هغه په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. زده کوونکي دې د لاندېنيو جملو تش ځايونه د چوکاټ په مناسبو کلمو په خپلو کتابچو کې ډک کړي.

الف. کارکول له .... کولو څخه ډېر بهتر او غوره دي.
ب. کار وکړئ او له چا څخه سوال ....
ج. مسلمانانو ته نه ښايي.................... وکړي او د خپلو متو په زور ځانته روزي پيدا کړي!
د. خيرات ورکول .... ته ډېر زيات ثواب لري.

ګوډانو، ړندو، ناروغانو، او بېوزلو- سوال، کار- کارکول- مه کوئ

ارزونه:

۱. آيا زده کوونکي متن سم لوستلی شي؟
۲. زده کوونکي وپوهېدل چې کار تر سوال کولو غوره دی؟
۳. زده کوونکي پوه شول چې د اسلام ستر لارښوونکي حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) هم د کار کولو په وسيله د روزي پيدا کول ډېر غوره بللي دي؟
۴. زده کوونکي په دې هم وپوهېدل چې کار روغتيا او سلامتی ته ډېره ګټه لري؟
۵. زده کوونکي د جملو تش ځايونه په مناسبو کلمو سره ډکولی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د لاندې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې وليکي او هغه دې په ياد ووايي.
زموږ ستر لارښوونکي حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د کار کولو په هکله څه فرمايلي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه څلوېښتم لوست

ځيرک سوالګر

موخې:
١. د ټوکې په مفهوم باندې پوهېدل.
٢. زده کوونکي وکولی شي چې ټوکې ووايي.
٣. د متن لوستل اوليکل.

هڅوونکې پوښتنې:
١. د تاسو په فکر سوال کول څه ډول کار دی؟
٢. ولې ټول خلک سوال نه کوي؟

يوه سوالګر چې نه يې غوښتل د سوالګر په څېر معلوم شي يو ماښام ديوه کور په څنګ کې د کور تر کړکۍ لاندې ودرېد. کله چې دکور مېرمن يې په کړکۍ کې وليده، پوښتنه يې ځينی وکړه چې: خورجانې! که يوه ستن ولرې اړتيا ورته لرم رايې کړه!

مېرمنې ورته وويل: ((ستن لرم خو که در وايې چوم در څخه ورکه به شي، ځکه چې تياره ده.)) سوالګر ورته وويل: ((مهرباني وکړه په يوه ټوټه ډوډۍ کې يې وټومبه را وايې چوه او زه به يې په دې توګه واخلم.))

نوي لغتونه:

سوالګر- سوال کوونکي
ځنې- له هغه څخه
ټومبل- په يوه شی کې ټينګول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې ټوکه ولولي او دهغې په مطلب دې خبرې وکړي.
۲. ښوونکی دې د زده کوونکو پام دې خبرې ته را واړوي چې سوال کول ښه کار نه دی، ځکه سوالګر شرمېده چې ستن یې پلمه کړه.
۳. ښوونکی دې دا کلمې پر تخته ولیکي او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې یوه یوه مناسبه جمله ورته جوړه کړي.
الف. اړتیا ب. غوښتل ج. مېرمن هـ. ماښام و. مهرباني

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې ټوکه ولولي او هغه دې په تمثیلي توګه اجراء کړي.
۲. زده کوونکي دې د غو لاندې پوښتنو ته ځواب ور کړي:

الف. سوالګر ستني ته اړتیا درلوده؟
ب. آیا سوالګر په ماښام کې ستني ته اړتیا درلوده؟
ج. سوالګر ولې غوښتل، چې سوالګر معلوم نه شي او ډوډۍ هم لاسته راوړي؟

ارزونه:

۱. زده کوونکي وپوهېدل، چې سوال کول دهر چا له پاره ښه کار نه دی؟
۲. زده کوونکي کومه بله ټوکه د نورو زده کوونکو په مخ کې ویلی شي؟
۳. آیا زده کوونکي متن لوستلی او لیکلی شي؟

کورنی دنده:

زده کوونکي دې دا ټوکه په یاد زده کړي او په خپلو کتابچو کې دې په ښکلي خط سره ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږخلوېښتم لوست

بشردوستي

موخې:

١. د بشر دوستۍ په معنا او مفهوم باندې پوهېدل.
٢. په زده کوونکو کې دبشر دوستۍ د حس روزنه او پیاوړتوب.
٣. د متن لوستل او لیکل.

هڅوونکې پوښتنې:

١. ولې موږ ته لازمه ده، چې دبشر دوستۍ په راز وپوهېږو؟
٢. ستاسو په فکر ویلی شئ، چې بشر دوستي په ټولنه کې څه ارزښت لري؟

څرګنده ده، چې انسان په ټولنه کې یو زیار کښ موجود دی اود بشري ستونزو د لېرې کولو له پاره د نه هېرېدونکو خدمتونو ویاړ لري. نو باید د ژوند په ټولو چارو کې له یوبل سره مرسته، همکاري او دستونزو په وخت کې خواخوږي ولري.
څنګه چې موږ انسانان یو نوښایي، چې له انسانانوسره مینه او محبت خپله بشري فریضه وبولو او په دې عمل وکړو، چې هرانسان دعزت او درناوي وړدی.
په خپلو کړو وړوکې له خوږواومناسبو ویناوو څخه کار واخلو. له بلې خوا د خپل بشري توان سره سم له هر انسان سره په زړه پورې او لازمې مرستې وکړو، ځکه چې دا د انسانیت تر ټولو غوره مقام دی.
انسان ته ښایي یوازې د خپلې سوکالۍ او نیکمرغۍ په فکر کې نه وي، بلکې په نورو هم دا پیرزوینه ولري.
وګورئ رحمان بابا دبشر دوستۍ دا لوړ احساس په څومره خوږوالي سره په دې بیت کې ځای کړی دی:

هغه زړه به له طوفانه په امان وي
چې کښتۍ غوندې د خلکو باربردار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي لغتونه:

پیاوړی-	غښتلی	ټولنیز-	اجتماعي
چاپېریال-	محیط	ستونزې-	کړاوونه
خواخوږي-	همدردي	درناوی-	درنښت
پېرزو-	لورینه	غوره-	په زړه پورې

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې متن ولولي او په دې برخه کې دې معلومات وړاندې کړي.
۲. متن دې په زده کوونکو باندې د املاء په توګه ولیکي.
۳. د رحمان بابا بیت دې معنا او د هغه په هکله دې څرګندونې وکړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې متن ولولي او په مطلب دې خبرې وکړای.
۲. په خپلو کړو وړو کې بشر دوستي څه ډول ښودلی شي؟
۳. لاندې جملې دې د چوکاټ په مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کې بشپړې کړي.

الف. انسانان د ژوند په ټولو چارو کې له یو بل سره .... ولري.
ب. په خپلو خبرو اترو کې له .... ښه کار واخلو.
ج. هغه زړه به له .... په امان وي.
د. چې کښېتی غونډې د........................... باربردار شي.

ښوالفاظو،	خلکو،	طوفانه،	خواخوږي

ارزونه:

۱. زده کوونکي متن لوستلی شي؟
۲. دمتن په مطلب پوه شوي او دبشر دوستۍ په هکله خبرې کولی شي؟
۳. د بشر دوستۍ په هکله یوه لنډه مقاله لیکلی شي؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د مرسته، خواخوږي، درناوي او بشر دوستۍ کلمې په مناسبو جملو کې راوړي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه څلویښتم لوست

د وطن ترانه

موخې:

۱. زده کوونکي د هېواد په ارزښت وپوهېږي او په راتلونکي مهال کې د زړه له کومې خپل هېواد ته خدمت وکړي.

۲. دلاندې شعر سم لوستل او په معنا يې پوهېدل.

هڅوونکي فعاليتونه:

۱. ستاسو په فکر وطن څه معنا او مفهوم لري؟

۲. ولې په هر چا باندې خپل وطن ګران دی؟

۳. موږ ولې ښايي خپل وطن وساتو؟

دا وطن ودان وطن   دا د لوی افغان وطن

دا پر موږ ګران وطن

خاوره د غېرت ده زلزلې لري طوفان لري

غرونو کې بازان لري

شور يې په سيندونوکې   تاو يې لويو غرونوکې

مينه يې په زړونوکې

خيژي له سينې، د هر افغان ولولې لري

بلې يې لمبې لري

اوسي افغانان په کې   نسل اتلان په کې

واړه سربازان په کې

ثاري يې د غرو او چت سرونه له آسمان سره

ننګ او له ايمان سره

سليمان لايق

نوي لغتونه:

ولولې- شور اوغوغا

بازان- ګوربت

اتلان- قهرمانان

ټاټوبی- وطن يا د اوسيدو ځای

سربازان- سربښندونکي

ثاري- ثارنه يې کوي، يا ساتنه يې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونکي ته لارښوونې:

۱. ښوونکی دې د وطن ترانه په مناسب وزن سره ولولي او بیا دې معنا کړي.
۲. د وطن د مینې په هکله دې خبرې وکړي.
۳. د نورو خبرو په ترڅ کې دې متل ته اشاره وکړي او د هغه په هکله دې څرګندونې وکړي!
«هر چاته خپل وطن کشمیر دی»
۴. دا شعر دې په زده کوونکو باندې د املاء په توګه ولیکي.
۵. دا شعر دې په زده کوونکو په یاد زده کړي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

۱. زده کوونکي دې ترانه په ډله ییزه توګه په لوړ آواز ولولي!
۲. د دې ترانې هم وزنه کلمې دې پیدا او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي!
۳. د ترانې مطلب دې په نثر ولیکي!
۴. د وطن دوستۍ مینه دې د احمد شاه بابا په اشعارو کې وګوري. هغه دې په کتابچو کې ولیکي او له یاده دې زده کړي.

که هرڅو مې د دنیا ملکونه ډېر شي
زما به هېرنه شي دا ستا ښکلي باغونه
احمد شاه به دغه ستا قدر هېر نه کا
که ونیسي د تمام جهان ملکونه

ارزونه:

۱. آیا زده کوونکي د وطن ترانه په ډله ییزه توګه له یاده ویلی شي؟
۲. آیا زده کوونکي د وطن دوستۍ په مطلب و پوهېدل؟
۳. زده کوونکي د لوست کلمو ته جملې جوړولی شي؟
لکه: (ملکونه، باران، سیندونه، تاو، لمبی)

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د وطن په هکله یوه ښه مقاله په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا دې خپلو ټولګیوالو ته ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې ترانه

پوهنه ده رڼا — وطن ته موښکلا
کتاب او قلم — زموږه رهنما

پوهنه ده رڼا، وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

وطن زما یې ځان — له تانه شم قربان
ته وینه د افغان — ته لوړه په ټول جهان

پوهنه ده رڼا، وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

آباد اوسې آباد — وطنه ته شې ښاد
موږ سربښندو په تا — او ساتو دې آزاد

پوهنه ده رڼا، وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

ته کور یې هم مو ګور — ته پلار یې هم مو مور
ته زړه یې د آسیا — او زما د سترګو تور

پوهنه ده رڼا، وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

ته ننګ یې دآریا — او تاج یې د یما
ځارېږمه له تا — افغانستان زما

پوهنه ده رڼا، وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

محمد مُعین مرستیال

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library